JAN 2 0 1959
Copy

کابل

پر له پسی ګڼه (۴٦۵)

بناغلی محمدصدیق پسرلی «لیونی شاعر»

د بنا پیرو ډله

زړ گیه! څه خوپورته. بنا پیری راغلی دي
گلشن دتماشو ته گل غوټی راغلي دي

راپور ته شه زړ گیه! نه دي وخت دی دخو بو
هجوم دمکیزو نو ورا نوی کو ر دتـو بو

و پشلی بنا یستو نه په خپلو ا و په شعبو
که و گوري بو لحای شولو گیډی راغلي دي

هر لور ته را روانی دی د حسن دسر تاج
هغه شانی تورستر گی چه هوسی نه آحلی باج

دحسن سره نازهم دی مو ندلی خپل معراج
زماهم وړي هیلی په لحو انی راغلی دي

راپور ته شه، که گوري د بی محو قافلي
چه زلفو بي کړی لنډی د فکرو نو سلسلي

دمینی په بازار کښي بي کړي گډي و اولي
دزړو نو خریدا ري گلا لی راغلی دي

راپورته شه زړ گیه؛ چه نجلی لکه کو تری
چه اپلی وی په کور کښي درته گرزی لری بری

ترخوبه ئي ویده الوتي سا ستر گی نهری؟
دستر گو بازایله کړه چه هوسی راغلي دي

دحسن ښکار ندو دلی لکه ښکلي گل غو ټی
زړه ورونکی روح ښیرنکی لکه مستي نیمگی

طوفان کوی چه واروی چشمان لکه هو سی
چه حوری دجنت دی، که سپوږمی راغلی دي؟

تور ستر گي بنا پیری راغلي نازونه ورسره
د حسن ملگي دی او با زو نه ور سره

لحی په بد ر گه او ښکی، نیا زونه ورسره
ښکا ر یسی دزړو لکه زمری راغلي دي

پي مخي بنا پیری را غلی یوه تر بلی ښه افسوس چه یکښی نه ښکاری ننها تر گلی ښه
شیر ښه؛ چه ترتولو دزړه نښه و لی ښه ویده به وی ورزغ کړه چه سیلی راغلی دي

No. 465

۱۳۳۷ش کال د تلې اول د ۱۳۷۸ق کال ربیع الاول (۹) د ۱۹۵۸م کال دسمبر ۲۳

۲۸ کال

۱۳ گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند : پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر : گل پاچا « الفت »

مسئول مدیر محمد حسن « کاکړ »

پته : کابل - نادر پښتون واټ دپل خشتی په مقابل:

د تیلفون لمبر (۲۱۲۹۱)

په دې ګڼه کښې

ګڼه	مضمون	لیکوالی	مخ
۱	پښتو دپاره یوبل اساسي خدمت	ښاغلی محمد حسن ک کړ	۱
۲	راغلی لیك	« حسین بخش کوثر غوریاخیل	۱۵
۳	لیدل غواړم	« لو نکین	۱۷
٤	ساینس او فلسفه	« محب الله نکته	۱۸
٥	د چین ننني ادب مینه ؟	« محمد صدیق روهی	۲۵
		لیکونکی م؟ز	۳۱
۷	په شوروی ازبکستان	ښاغلی عارف عثمانوف	۳۲
۸	د ښاغلی عارف عثمانوف	..	۳٤
۹	تدریجی نشو او	« ښاغلي میر اکبر	۳۵
۱۰	زمونږ په ژوند	ښاغلی جالوان	۳۹
۱۱	نشراتی موسسو ته		٤۳

پښتو دپاره یو بل اساسی خدمت

په جرګو او مرکو سره د ډېر شیان کیږی؛ ډېرې ماتې ګوډې برې سمیږی او ډېرې غوټې برې خلاصیږی. هر څومره چه تګ او راتګ، ناسته او ولاړه، مرکه او جرګه، او خبرې، اترې سره زیاتې شی، هغومره د دوستانو تر منځ الفت، رښتیا؛ خدمت، صداقت او اندیوالی زیاتیږي او ډېرې کږې سمې او ناهوارې هواریږی او اساسی اړتیاؤ ته التفات زیاتیږی او ژوند خوند مومی. هلته چه په ژوند کښې خوند؛ په عمر کښې برکت؛ په سړو کښې قوت؛ او په ټولنې کښې ابتکار نشته؛ هلته ځان ځانی ده؛ بې پروائی ده؛ سره سړتیا ده او چپه چپیا ده. د داسې ټولنو په سړو کښې مغزونه وده نکوی؛ فکرونه پکښې ورستیږی؛ او عالی استعدادونه پکښې مړاوی کیږی او له کاره وځی. له تګ او راتګ؛ ناستی او ولاړی؛ غونډو او مرکو څخه خبرې راولاړیږی او خبرې د عمل دپاره خلک پاروی او ولسونه خوځوی او د نهضت او تحول دپاره ئې تیار او آماده ګرزوی د یو ولس د پرمختګ بوه لویه نښه د منظمو جرګو لرل دی. ځکه منظمې جرګې او مړی اساسات ښه دی او نورو ته ښوونه کوی چه په تاکلی لار حرکت وکړی او هر راز خنډ چه مخې ته نیغ ودریږی له منځه لری کړی او په مخ ولاړ شی که و وایو چه د نړۍ زیاتره مهم کارونه په لومړۍ مرحلې کښې د جرګو او مرکو زیږنده دی؛ نو به مو بیځایه نه وی ویلی.

زمونږ سیږنی جشن د داسې غونډو یوه ښه نمونه ویه دې جشن کښې د ژوندانه د هر اړخ نمایندګان راټول شوی وو له دنه او دباندی؛ لری او نژدې څخه ډېرو کسانو پکښې ګډون کړی وو.

د لرې پښتونخوا لیکوال او پوهان هم پکښې رابلل شوی وو. په جشن کښې هر چېرته مرکې؛ ټولنی او جرګې روانې وی او خوښۍ پکښې ځای درلود. په دې ټولنو کښې څه د خوند او خاطرونه ډکې غونډې د لرې پښتونخوا هغو پوهانو او لیکوالو جوړې کړی وې چه د پښتو ټولنې په بلنه د ګران هېواد مرکز کابل ته د جشن دپاره راغلی وو؛ دوی چه د لیری پښتونخوا له لیکوالو سره مرکو دپاره غونډ شول او په خپلو کښې سره کښیناستل تر ټولو

دمخه دوی ټولو په ګډه پښتو او دهغه لیک دودته توجه وکړه نو ځکه یې دتیرو هغو علمی غونډو لمنه پسې اوږده کړه چه تراوسه د لیک دودمعیاری کولو په باب دافغانستان او پښتونستان لیکوالو ترمنځ په کابل او پېښور کښې شوې وې دلته هم ددې غونډولوی مطلب داشو چه دپښتو لیک دو دمعیاری کړی او داسې فیصلی په دې باب کښې وکړی چه پښتانه یې په ټولې پښتونخوا کښې عملی کړی اولدې وروسته پښتو داملاء له مخې یو واحد شکل غوره کړی ؛ او دا نیمګړی خوابې هم پوره شی او دیوی علمی ژبې خصوصیت پکښې له ورایه ناري ووهی په دې ډول زیاتره هغه کلمی او لفظونه چه دلیکلو په لحاظ د لری او بری پښتونخوا لیکوالو ترمنځ پکښې اختلاف ؤ ؛ پر له پسې غونډو ته وړاندې شول ؛ په نتیجه کښې له ښه مرغه په ټولو کلمو باندې اتفاق نظر راغی او غوره شکلونه یې تصویب شول ددې لپاره چه دا فیصلی عمومی شي او غوره شوی شکلونه ټولو پښتنو لیکوالو ته ورسیږی دادی پښتو ټولنه یې له پخوانیو فیصلو سره یو ځای دلته چاپوی او بیائې وروسته دیوې وړې رسالی په څېر په جلا ډول په زیات شمېر راباسی ؛ څرنګه چه دا فیصلی د پخوا لیکوالو او د پښتو ټولنې او د پېښور د پښتو اکاډمی دمسلکی غړو لخوا شوی دی ؛ نو مونږ باور لرو چه د پښتو ژبې د پاره به زیاته ګټه وکړی همدغه سبب دی چه مونږ دا کار د پښتو د پاره یو اساسی ګام شمېرو ؛ هیله ده چه پښتونخوا لیکوالو او د پښتو ژبې پوهانو ته بیا دغسې موقع پیدا شی او یا دوی پخپله داسې موقع برابره کړی چه د پښتو لیک ګرد سره معیاری کړی او نوری ماتې ګوډی بې هم ورسمې کړی .

دلته مونږ له ټولو پښتنو لیکوالو او نشراتی موسسو څخه په کلکه هیله لرو چه لدی وروسته دا فیصلې په نظر کښې ولری یعنی هم یې پخپلو لیکنو کښې استعمال کړی او هم یې په عمومی کولو کښې زیار وباسی او نور و ته ښوو ندوی شی .

محمدحسن کاکړ

الف: د (۱۳۲۱) ش کال دجوزا په یوویشتمه (۱۹۴۲ ع کال دجون یوولسمه) په کابل کښې دپښتو ټولنې په غوښتنه دافغانستان د (۲۵) ټولیکو الوتر منځ مجلس وشو، په دې مجلس کښې پر (۲۱) اختلافي مواد وباندې په اتفاق تصویب وشو چه دتصویب صورت ئې دادی:

۱- ځینې لیکوال چه دجمع مذکر په صفت کښې مثلاً لکه (تول هلکان) (تول خلق) (توله هلکان) یا (توله خلق) لیکي حتمي ده چه په داسې موارد کښې (تول) ولیکي او (توله) ونه لیکي. همداراز دجمع مؤنث ردصفت لکه (تولې طیارې) دپاره باید (توله طیارې) ونه لیکلې شي. دا ځکه چه په داسې موارد کښې د (توله) په ځای د (تول) لیکل حتمي دي.

۲- د (شوندې) په ځای چه د (شونده) جمع مونث ده، (شوندان) باید ونه لیکل شي.

۳- په (کښېناست) او (کښېنوست) کلمو کښې لمړنی غوره ګڼل شوي، نو ځکه ور وستنې دې په لیکنو کښې متروك وي.

٤- په (پاته او (پاتې) کلمو کښې لمړنی غوره ګڼل شو.

٥- (وای) دا کلمه په هغه ځای کښې چه دتمنا دپاره استعمالیږي، باید له (الف) سره ولیکلې شي.

٦- د (او) او (تو) په مقابل کښې (لو به) او (تو به) مرجحه ده تو به خپلو لیکنو کښې باید دوه وروستیو کلمو ته حق ورکړو، یوازې دشعرې ضرورت دپاره کېدای شي چه (لو) او (تو) ولیکل شي.

۷- دماضي افعالو دواحد مذکر صیغه چه په څو صورتو لکه (ولید) (ولیدو) (ولیدې) او نور لیکل کیږي یوازې یو صورت (ولید) او همدغې نور غوره وګڼل شو. نور صورتونه یې په لیکنو کښې متروك وګڼل شول؛ یوازې دو مره ده چه په ځینو مصدرو نو کښې ددې صیغې په آخیر کښې د (ه) اضافه کول ضروري دي لکه (وتاړه) او داسې نور.

۸- هغه کلمې چه دعلت په تورولیکلې کیږي لکه (میړونه) دهغه تورو صورتونو په مقابل کښې چه بې دعلت دتورو لیکلې کیږي لکه (مړونه) غوره ګڼلې شوي دي. یوازې د [اخ] کلمه د [لوخ] په مقابل کښې په مجلس کښې مستثنی شوه.

۹- لاندې کلمې لکه [وشو] [شوی] [شته] [شی] او داسې نورې چه ځینې یې په [وسو] [سوی] [سته] [سی] سره لیکي باید په لمړی صورت یعنې یوازې په [ش] سره ولیکلې شي.

۱۰- ځینې لیکوال چه د [ښه] او [لږ] کلمې دمذکر اومونث موصوف سره یو ځای دمفرد او جمع فرق پکښې نه کوي او یوازې یې ور سره لیکي یعنې [ښه خبرې]، [لږ ډوډی] او [لږ اوبه] لیکي باید دمفرد اوجمع، مونث اومذکر مراعات پکښې وکړي یعنې [ښې خبرې] [لږه ډوډۍ] او [لږې اوبه] دې ولیکي.

۱۱- ځینې لیکوال چه د [وې] او [بې] په ځای [واست او [یاست] لیکي دواړه صورتونه ازادو کښل شول.

۱۲- [غږ] او [زغ] چه په لیکنو کښې په دواړو ولو ایدل کیږي دواړه صحیح دي.

۱۳- د [ځینې] او [ځنې] کلمې چه لمړی د [بعضی] او وروستی د [از] معنا لري باید هرډول په خپل ځای کښې استعمال شي.

۱۴- [چلوونکی] [کوونکی] [ښوونکی] [ښوونځی] او داسې نور باید په دوه واوونو ولیکل شي.

۱۵- د [کښې] د کلمې په اخر کښې باید یوه مجهوله [ې] اضافه شي او [کښې] ولیکل شي.

۱۶- دا راز جملې لکه (احمد ترکی اري یلاریږي نه وینې) باید د یلاریږي نه وینې) ونه لیکلی شي ځکه چه دا ډول حذف او تخفیف د ژبې بنسټ رانوي.

۱۷- ځینې لیکوال چه د (ویل) په ځای (ویله) لیکي باید (ویله) په خپل خاص ځای کښې استعمال کړي مثلا: (احمد ویله چه یانګه له سپما څخه جوړیږي) باید ترک شي.

خو دلته چه (احمد سندره ویله) صحیح دی.

۱۸- د «تلل» د مصدر ماضی باید په «واو» سره «ولاړ» ولیکل شي او بې واو «لاړ» دی متروک ویې ګڼل شي.

۱۹- د «وکی» «کی» «وکیء» کلمو په مقابل کښې دا کلمې: «وکړی» «وکړ» «وکړیء» غوره وګڼلې شوې چه باید په لیکلو کښې یې مراعات وشي.

۲۰- «مونږ» دې په «ن» سره ولیکل شي.

۲۱- «زما» «زه» «زمونږه» دې په «ززي» سره ولیکل شي.

پورته مادې د ۱۳۲۱ کال د جوزا په «۲۱» په هغې غونډې کښې چه د ښتو ټولنې له غوره غړو او د ښتو ژبې له ستر پوهانو څخه جوړه وه تصویب او ومنل شوې.

الفت- رښتین- خادم- عبدالغنی محمد رسول محمد رفیق قانع واسعی- بژواك- بینوا- سیفی- عبدالله افغانی نویس- سعید- غلام حسن سایی- زمریالی- جرار صوفی عبدالحمید «د مجلس رئیس» اورادالدین- محمد اعظم ایاز.

ب- د ۱۳۲۷ ش کال د سنبلې په اتمه «۸ ۱۹ ع کال د اګست دیرشمه» په کابل کښې د ښتو ټولنې په غونډنه د ښتو ښوونځوا د «۸» او د بړې ښتو ژبې د «۱۱» تنو لیکوالو ترمنځ مجلس وشو په دې مجلس کښې «۱۶» اختلافي مواد په اتفاق تصویب شول د تصویب صورت یې دادی.

۱- «ن» «نړ» د احرف په حلقه وال نون «ن» لیکل کیږي او د «نه» د غږ قایم مقام به وی د دې نوري نوم به «نه» یعنی «نسره» وی.

۸- «زه» «د» «ښه» «نه» په کلمو کښې د «ه» له پاسه د «۶» لیکو نه ضرورت نشته نو نرمخښې زوروال او زورکی وال تورو ووسته «ه» به دواړه یو شان لیکلی شي.

۳- مجهوله «یا» به په منځ کښې په دوه لاندې باندې تکو او معروفه «ی» به په دوه څنګ پرڅنګ تکو لیکلی شی لکه هېرمېل او په آخر کښې اوږده «ې» او ګرده «ی» چه تکی ئی لاندی باندې وی «ې» دواړه صحیح دی.

٤- د پښتو کلمی لکه اخیستل اوریدل- او داسی نوری به په مدنه لیکلې کیږی.

٥- د «مې- دی- تری- پرې- لاندی- باندی او داسی نورو کلمو کښې باید د «زیر» په ځای «ی» ولیکلی شی- دغه شان «بوخت — ګوډ ګوته- لومړی کوچنې او داسی نوری کلمی باید په «و» و لیکلې شی.

٦- د «چهاپ» «ګهړی» او داسی نورې کلمې چه په اردو کښې په «ه» لیکلې کیږی په پښتو کښې یی «ه» صحیح دی.

٧- د پښتو «ښ» «ږ» به په هغو کلمو کښې لیکلی کیږی چه په اول کښې یې «خ. ش» او په دوهم کښې یې «ګ. ژ» غږونه موجود وی او که صرف یو آواز ولری هغه به په «خ» یا «ګ» لیکلی شی لکه. خور «خواهر» ستر ګه او داسی نور دغه شان «زیره» او ټول حالیه افعال به په (ز) لیکل کیږی لکه پاڅیږی غورځیږی او نور.

٨- د «تلل» د مصدر او د هغه مرکبو مصدرونو فعل حال په پښتو «ځ» صحیح دی لکه «ځی» راځی- درځی بوځی او د باقی نورو داسې مصدرونو فعل حال د «هوز په زاء» لیکل په کار دی لکه پرزی- غورزی- پریوزی کښیوزی- او نور به هم په (ز) لیکلی شی.

٩- د ماضی مطلق او حال امر ټولې صیغی چه په الحاقی «و» جوړ یږی د هغو په سر کښې د «ا» لیکلو ته ضرورت نشته او بې الفه به لیکل کیږی لکه و کوت ولیده- و ګوری ء وغورځېد «؟»

١٠- د «ژوند- ژی- پیژندل ژور» د کلمو لیکل په درې تکی «ژ» صحیح دی.

١١- د ځینی کلمه چه د بعضی په معنی وی په پښتو «ځ» او منځنۍ «یا» صحیح ده او د «از» په معنی بی «یا» صحیح ده لکه ځینی خلق- له تا ځینی می واخیست.

١٢- د (ویل) په ځای (وې) یو اځی په شعر کښې روادی او بېله شعره به (ویل) لیکل کیږی

١٣- د «کښې» توری لیکل د پای په «ی» سره صحیح دی

١٤- د ماضی بعید ضمیرونه به په دې وروسته صورت لیکل کیږی «وم- وو- وی- وی ء وو، وه، وې یعنی د جمع مذکر له پاره یو «و او» او د مفرد مونث له پاره «وه» صحیح دی

١٥: د «وشول» د مصدر افعال په دې شان راځی «وشوم، وشوو؛ وشوی، وشوې ء، وشو، وشول، وشوه، وشوې» یعنی د جمع متکلم په آخر کښې دوه «و» او د مفرد مذکر غایب په پای کښې یو «و» او د جمع مذکر غایب په آخر کښې «ل» لیکل صحیح دی.

مګر په جمع مذکر کښې چه کوم بل مصدر مبتدا واقع شی

په مخفف د و ل «و شو و» هم
رانلای شی لکه لیدل و شوو دغه
شان په نورو افعالو کښې هم
باید دجمع مذکر ؟ غایب
صیغې په «ل» ولیکلی شی لکه
هلکان راغلل او داسې نور ...

۱۶: تولې مطلقې ماضی ګانې
د مفرد مذکر غایب لپاره په
موقوف صورت یعنې بیله
«ه ، ی ، و» څخه راځی لکه
ولید و کوت و کړ و غورزید
وچلید .

مګر په کومو مصادرو کښې
چه موقوف صورت مستعمل نه وی
هلته دغه صیغه په زور کی واله
«ه» راځی لکه وتاره - وژاره -
وواهه وشاره او داسې نورو
صیغو کښې د «الف» لیکل هم
ضرور دی .

مونږ دسرحد ځینو ادیبانو
او دافغانستان لیکوالو دسنبلې
په اتمه د ۱۳۲۷ ش او د اګست
د برشمه ۱۹۴۸ ع تاریخ په کابل
کښې یوه تولنه وکړه او په
هغې کښې مو په اتفاق سره
د پښتو دځینو حروفو او کلمو
په باب پورته فیصلې وکړې چه
مونږ تول به پس له دې له هغو
سره سم د پښتو حروف او الفاظ
لیکو او دهغو په تعمیم کښې به
کوښښ کوو .

لاس لیک کونکی .

د پیښور له خوا .

مولانا عبدالقادر . عبدالخالق
خلیق ، حکیم - انوارالحق ، امیر
حمزه شینواری - محمد نواز ختک -
سید رسول رسا - خانمیر هلالی
ملک سیدال شینواری

دافغانستان له خوا .

شمس الدین مجروح . بینوا
رښتین ، خادم . الفت . مولوی
عبیدالله صافی - سلیمی . اخلاص
میوندوال . پکتیانی محمدنور .

نن چه له ښه مرغه دافغانستان دخپلواکۍ دبېرته ګټلو څلوښتم تلین په مناسبت دلرې اوبرې پښتونخوا درانه لیکوال دافغانستان په مرکز (کابل) کښې د پښتو او پښتنوالی په مینه راټول دی ډیره به ښه وی چه دخپلی ملي ژبې درسم الخط په باب پخپلو کښې سره وږغېږی او دا ضروری موضوع سره وڅیړې.

که خدای کول چه ددې دوستانه بحث اوڅیړنې په نتیجه کښې دپښتو رسم الخط ځینی اختلافات چه اوس دپښتو لیکوالو ترمنځ موجود دې دپښتو ژبې داملائی وحدت دتامین په غرض لیرې او دپښتو لیك لمتشتت څخه خلاص کړی یقیناً چه دا به دپښتو ژبی دپرمخ تك او تعمیم له پاره یو کټور اقدام وی.

درسم الخط اتحاد موضوع چه دپښتو ژبې دارتقاء په برخه کښی یوه اساسی موضوع ده له ډیره وخته په کښی دپښتو ټولنی او پښتنو لیکوالو توجه خپلی خواته راګرزولې او په دی باب تراوسه پوری (۳) مجلسونه شوی دی چه هر یو یې دنتیجی په لحاظ مفید او داهمیت وړ ګڼل کیږی دنوموړو مجلسونو مصوبات «هغه چه یواځی دافغانستان دلیکوالو ترمنځ شوی دی» دتایید او نوی پیشنهاد دفیصلی او تصویب له پاره دلته بیا وړاندی کیږی په درناوی.

لومړۍ غونډه: «الف» برخه

۱- دلومړۍ فیصلی په «اتلسمه» ماده کښی داسی تعدیل وشو.

«لاړ» او «ولاړ» دې دواړه آزادوی.

۲- دلومړۍ فیصی په «شلمه» ماده کښی داسی تعدیل وشو.

«مونږ» او «موږ» دواړه ومنل شول.

۳- دلومړۍ فیصلی په «څلورمه» ماده کښی «پاتې» تر «پاته» غوره شو.

٤- دلومړۍ فیصلی په «اتمه» ماده کښی د «لڅ استثناء لغوشوه او «لوڅ» ومنل شو.

د۱۳۲۱ ش کال دسنبلی په پنځمه «د۱۹۵۸ع کال دا کست اوه ویشتمه» د کابل دپښتو ټولنی په میلمستون کښی دلرو بری پښتونخوا دپښتنو لیکوالو ترمنځ دپښتو رسم الخط دلومړۍ فیصلې په باب پورتنی «څلور» تعدیلات ومنل شول.

ګل پاچا الفت «دمجلس رئیس» مرادشینواری مولانا عبدالقادر «دپیښور دپښتوا کاډمی مشر» صاحبزاده محمد ادریس «دپیښور دپوهنتون استاد» حمزه شینواری فضل احمد غازی «د ګلستان دمجلې مدیر» فضل حق شیدا «دپیښور د مطبوعاتو آمر» صدیق الله رښتین

حبیب الله تبزی مو لا نا عبدا لخالق تار ن سلطا ن محمد صا بر محمد عا لم اتمـا ن عبدالرؤف بینوا محمد ارسلان سایمی مولانا عزیز الرحمان سیفی میرا جان سیا ل عبدالشکور رشاد محمد حسن ساپی محمدحسن کاکړ عبدالغفور ویا ند.

نوټ:

دپښتو رسم الخط په باب لومړۍ فیصله د ۱۳۲۱ ش کال دجوزا په یو ویشتمه «۱۹۴۳ ع ۵ جون ۱۱» په کابل کښی دپښتو ټولنې په غوښتنه یواځی دافغانستان د «۲۵» تنو لیکوالو ترمنځ شویده بې له پورتنیو څلورو تعد یلا تونور مواد ټول دلری پښتو نخوا د کابل نه راغلو لیکوالو له خوا تا ئید شول.

لومړی غونډه. (ب) برخه

۱ـ په لاندنیو مقلوباتو کښې غوره شوی اشکال دادی.

مقلوبات		مرجح شکل
۱	۲	
سپرلی	پسرلی	دواړه و منل شو ل
ځمکه	مځکه	ځمکه
زمری	مزری	زمری
کښته	ښکته «خکته»	کښته
پښه	ښپه «خپه»	پښه
کښل	ښکل «دلیکل او ایستل په معنی»	کښل
کښلی	ښکلی «دحسین په معنی»	ښکلی
کښلول	ښکلول	ښکلول
ماخوستن	ماسخو تن	ماسخو تن
ررځ	روځ	ورځ
موږی	مږوی	مو ږی
ژغ	غږ	دواړه ومنل شول
لو یشت	ولیشت	لو یشت
ور ك	روك	ورك
خسر	سخر	خسر
خوسا «خسا»	سخا	خو سا

سکروته	سروتکه-سکورته	سکروته

۲- په محذوف او محذوف منه کلماتو کښې غوره شوی اشکال دا دی:

محذوف	محذوف منه	غوره شکل
رور	ورور	ورور
زونه	ورونه	ورونه
رورولی	ورورولي	ورورلی
روسته' روستی	وروسته' وروستی	ورسته' وروستی
سوری	سیوری	سیوری
آخم ساخی	آخلم آخلی	آخلم آخلي
آلم' آلی		
بښل' بښنه	بخښنه' بخښل	بښل' بښنه
خور	خپور	دواره ومنل شول
ما پښین	ماز پښین-ماسپښین	ماسپښین
کم	کوم	کوم
سور	سپور	دواره ومنل شول
کنځل-کنځا	ښکا ځل- ښکا ځا	دواره ومنل شو
اخل	اخښل- آغښل	اغښل
مري «جامه»	نمری	نمری

۳- په ځینو کلمه تو کښې چه د «ز» او [خ] دواره مروج دی غوره شوی اشکال ئې دا دی.

د «ز» شکل	د «خ» شکل	غوره شوی شکل
زوی زامن	ځوی- ځامن	زوی-زامن
زیږیدل	ځیږیدل	زیږیدل
زغستل	ځغستل ځغښتل	زغستل
د (ز) شکل	د (ځ) شکل	غوره شوی شکل
زلمی	ځلمی	ځلمی

سوزل - سیزل	سوځل سیځل	سوځل- سیځل
زمکه	ځمکه	ځمکه
زمری	ځمری	زمری
خوزېدل	خوځیدل	خوځیدل
غورزنګ	غورځنګ	غورځنك
زغمل	ځغمل	زغمل

٤- ځینی کلمات چه په (ع) . (ز) او (ج) لیکل کیږی په (ژ) لیکل ئې غوره وګڼل شو لکه:

د «ژ» شکل	د «ز» شکل	د «ج» شکل	مرجح شکل
ژرنده	زرنده	جرنده	ژرنده
ژاوله	زاوله	جاوله	ژاوله
ژبه	زبه	جبه	ژبه
ژړا	زړا	جړا	ژړا
ژوند	زوند	جوند	ژوند
ژمی	زمی	جمی	ژمی
ژوبل	زوبل	جوبل	ژوبل
ژوبله	زوبله	جوبله	ژوبله
خیژی	خیزی	خیجی	خیژی
ژی	زی	جی	ژی
ژور	زور	جور	ژور
نژدی	نزدې	نږدی	نژدی

٥- په ځینو کلماتو کښی چه د ځینو حروفو ابدال موجود دی غوره شوی اشکال ئی دادی:

مبدلات		غوره شوی اشکال
نمر	لمر	دواړه شکلونه ومنل شول
نمی	لمسی	دواړه شکلونه ومنل شول
نموځ نمانځنه لمونځ- لمانځه		دواړه شکلونه ومنل شول

جینی	جیلی - نجلی		جینی - نجلی
نمر	لمبر		لمبر
نونس	نولس		نولس
وېره	بېره	اېره	وېره
ویده	بیده	اوده	ویده
ویاله	بیاله	واله	ویاله
اودل	اوبدل	اوبل	اودل - او بدل
وزه	بزه	بیزه	وزه
مینځل	وینځل		دواړه شکلونه و منل شول
مینځه	وینځه		دواړه شکلونه و منل شول
لانده	لامده		لانده - لامده .
منبتل	نښتل		نښتل

٦ - په پښتو کښې ځینې پردی مذکر اسماء اوصفات بیقاعده ي جمع کیږی

طالبانان

ملکانان

بزرگانان

دا ډول جمع جوړول بالکل غلط دی باید په یوه «ان» جمعه کړشی لکه طالبان ملکان، بزرگان پورتنی فیصله چه «شپږ» مواده لری د «۱۳۳۷» ش کال د سنبلی پر پنځمه» د «۱۹۵۸» کال د اگست اوه ویشتمه» د کابل دپښتو ټولنی په میلمستون کښې دلر اوبری پښتونخوا دپښتنو لیکوالو ترمنځ په اتفاق و شوه .

گل پاچاالفت «دمجلس رئیس» مراد شینواری ، مولانا عبد القادر د «پیښور دپښتو اکاډمی مشر» صاحبزاده محمدادریس «دپیښور دیوهنتون استاد» حمزه شینواری.

فضل احمد غازی د «گلستان دمجلې مدیر» فضل حق شیدا «دپیښور دمطبوعاتو آمر» صدیق الله رښتین، حبیب الله تیزی مولانا عبدالخالق تارن، سلطان محمد صابر، محمد عالم اتمان، عبدالرؤف بینوا، محمدارسلان سلیمی، مولانا عزیزالرحمن سیفی میرا جان سیال ؛ عبدالشکور رشاد ، محمد حسن سایی ، محمد حسن کاکړ ، عبدالغفور روبانه

دوهمه غونډه :

۱ : ددریمی فیصلی ددوهمی غونډې په لومړی اصل کښې دامنلی شوی ده، چه «ق» عربی توری دې تش دعربی په الفاظو کښې راتلای شی .

مگراوس هم چه لحینی پښتو کلمات په عربی (ق) لیکل کیږی لکه :

پرقا، توقی ثقالی، قارغه، قجبر، چقری، ثیق، قوده، قچره، قجوری، قوتی قچری خبری او داسی نور ....

صحیح کارنه دی داډول کلمات بایدبه «ك» ولیکل شی نه به «ق»

۲: ددوهمې فیصلی په لومړی ماده کښې د«ن» لپاره بسیط شکل منلی شوی دی مگر ددریمی فیصلې ددوهمی غونډی به «شپږمه» ماده کښې عدول ترینه شوی او د«ن» او «نر» دواړو استعمال جائز شمیرل شوی دی .

لحکه چه «ن» دپښتو، سانسکریت هندی او هسپانوی الفباء یو بسیط حرف دی دمحض دروندوالی له امله مرکب توری گڼل او یه مرکب صورت لیکل مناسب نه ښکاری ـ علاوتا د«نر» لیکل د«ن» پرځای یه لاندنیو تورو کښې داسی غلیظ التباس پیښوی چه دصحیح لیك او تلفظ امکان ئې له منځه لحی.

نرول او مشتقات ئې

نربدل او مشتقات ئې

نر (دجریب څلورمه)

نری، نرك نرکه

نرا [دخره ناری] نرل

نریچغ

کو نر

لحکه نو [ن] دی به بسیط شکل لیکل کیږی او [نر] شکل دی پرمخ متروك وی .

۳. ددوهمی فیصلې په دوهمه ماده کښې لیکلی دی .

[دزه نه ده ښه دده] په کلمو کښې د[ه] له پاسه د(ء) یعنی همزه لیکلو ته ضرورت نشته نوترمخکښې زورروال اوزور کی وال توری وروسته [ه] به دواړه یوشان لیکلی شی مگر ددریمی فیصلی ددوهمی غونډې په شپږمه ماده کښې لیکلی دی چه

(٥) د زور کی لپاره استعمالیږي لکه زړهٔ - تلهٔ - زهٔ - تهٔ پر دغو دوو متناقضو فیصلو باندی تر دوهمی پلاغور وروسته زړه فیصله چه د «ه» دنشست حکم کوی مرجحه وکڼله شو .

٤- د «ء» استعمال د لرې پښتونخوا په لیکنو کښی ډیر لیدل کیږی لکه .

الف - د الف او «یا» یا «واو» او «یأ» تر منځ لکه

لوئیدیز	[لویدیز]
خوائیندو	[خوندو- خویندو
اووئیل	[وویل]
آئینده	[آینده]

ب - د کلمی د اخر پرساکنو یأ گانو باندی لکه

لویء	[لوی]
دویء	[دوی]
هغویء	[هغوی]
پایء	[پای]
ځایء	[ځای]

ج- د کلمی داخر پرساکنو [واوو] باندی لکه

یؤ	[یو]
اؤ	[او]

دا قول [ء] دی په لیکنه کښی جداً متروك شی

؟ ٥- د دوهمی فیصلی په دریمه ماده کښی د مجهولي یاء مفرد او یا د کلمی په آخر کښی شکل [ې] او [ی] او د کلمی په منځ کښی سرپرسر تکی منل شوی دي .

دایأ اوس د لری پښتونخوا په لیکنو کښی ډیر رواج لری او تقریباً په غیر محل [د ملینه او معروفی یاء گانو پر ځای] استعمالیږی لکه .

زیری - کاڼی - دي مثلاً دافسون نوم دي - مونږ کوشش کړی دی .

غلي مثلا ممدوت غلي دي .

ولي مثلاً عطامحمد ولي داسي او کړه او نور . . . . .

دایاء دی یخپل محل کښې استعمالیږی لکه :

د ماضی مطلق او استمراری مخاطب مفرد صیغی مثلا ته احمدووهلي - ته احمدوهلی

د حال او استقبال مخاطب مفرد صیغي مثلا ته احمد وهي - ته به احمد ووهي

ته احمد وهلاي شي - ته به احمد و وهلاي شي

دماضی قریب اوماضی بعید مخاطب مفردصیغي مثلا ته احمدوهلي یې - ته احمدوهلي وې

د ماضي قریب اوماضی بعید مفرد مونث غایب صیغی مثلا احمد رحیمه وهلي ده -

احمد رحیمه وهلي وه د اسم فاعل او اسم مفعول واحدمونث صیغه مثلا- تلونکي-تللي

د مختوم په های ملفوظی مونثو اسماو جمع مثلا وزي - پښې - مړي - کښې

او داسی نور . . . . .

د ۱۳۲۱ ش کال دسنبلی په اتمه [د۱۹۵۸ع کال داگست دیرشمه] چه د کابل دپښتو تولنی په میلمستون کښې دلراوبری پښتونخوا د پښتنو لیکوالو ترمنځ دپښتو رسم الخط په باب غونډه وشوه پورتنی [پنځه] مواده په اتفاق ومنل شول .

کل یاچا الفت [د مجلس رئیس] [مولانا عبدالقادر] پیښور د اکادیمی مشر] حبیب الله تږی مولانا قیام الدین خادم- محمدعالم اتمان - صدیق الله رښتین - مولانا عزیزالرحمان سیفی ببرك لحاخی- محمد محسن سابی - محمد دین ژواك - صاحبزاده محمد ادریس [د پیښورد پوهنتون استاد] - م . عبد الخالق واسعی - حمزه شینواری سعدالدین - محمدحسن کاکړ فضل احمد غازی [د گلستان دمجلې مدیر] - فضل حق شیدا [د پیښور د مطبوعاتو آمر] عبدالشکور رشاد - میراجان سیال .

راغلی لیك

خوږه گل پاچاخان الفت !

ښه چاری !- د گران افغانستان
د خپلواکۍ د جشن په دستوره
کښې ستاسو بلنه راورسېده په
لیك کښې چه د مېلمستیا په حقله
د پېرزوینې کوم جزبات تاسو
راښکاره کړی دی هغه نه یواځې
زما بلکه د دې غاړې د هر یو
پښتون لیکوال دپاره دویاړ او
افتخار تو ښه ده زه ستاسو په
وساطت نن د افغانستان ادبیاتو
ته مخاطب کېږم او امید دی
چه تاسو به زما دغه پیغام بلکه
زما د خواهشونو د نامرادۍ
دارویداد هغوی ته واوروی .

ورونو !- زما خوښه وه او
رښتیا وایم چه دا زما تلوسه وه
چه د خوازه افغانستان د پښتون
اولس د خپلواکۍ د خوشحالیو
په دې دستوره کښې هرو مرو
شریك شوی وای زما ډېر لوی
خواهش ؤه چه د خپل پښتون
اولس د نیکونو هغه مقدسه مځکه
پخپلو سترگو ووینم کومه چه
د فطرت د ناترسولاسونو نه په
تېرزرگونو کلونو کښې
د هر حمله آور د غشوتکۍ پاتې
شوې ده او د دې اوسېدونکو
سره د ډېر گورو ورېځو د هیچا
چارخائی ونه منله او نه ئی
خپل دود دستور او کلولی
(کلچر) پرېښوده ما غوښتل
چه د خپلو نیکونو هغه پاکه
مځکه ووینم د کومې نه چه
زمانیکه [غوره خان] په مغولواله
کښې دې غاړې ته رالېږېدلی ؤ .
ورونو ! مونږ وجدانی ، فطری
اکتسابی ، نسلی ، وراثتی او
لسانی په هر لحاظ پښتانه افغانان
او پټانان یو څه وشو چه
زمونږ او د افغانستان د اولس
دیووالی ترمینځه د سیاسی نظام
حکومت پاڼه د شلوان سوب
[سبب] گرځېدلی ده زمونږ
وینه او رگ یودی حکومتی
نظامونه دې بېل بېل وی
خو د شلوان په دې تروزمۍ
کښې د پښتو ښکالو به آورېدی شی
نو هر آورېدونکی به تری
د پښتون احساس و کړی
کس ندانست که منزل گه مقصود کجاست
اینقدر هست که بانگ جرسی می آید

دافغانستان ادیبانو !

ستاسو او زمونږ ژبه یوه ده ،
وینه مو یوه ده د ود دستو
مو یودی خیال مو یودی د خیالاتو
سر چینه مو یوه ده دماغ مو
یودی او د دماغ پیدایښت مو
یودی او د سرشت غوښتی مو یو
شان دی وجود مو یو دی او
موجودیت مو یودی او د موجودیت
تقاضا مو یوشان دی احساس
او جذبه مو یوشان ده هستو گنه
مو یو شان ده او بیا روح هم
یودی ولی کالبوت جدا لرو
هسې نه چه تاسو چېرته داو گنۍ
چه حقیقی کالبوت چه ورته
هیئت وائی جدا لرونه ! نه !
داسې نه ده دا هیئت سیاسی دی
نه چه فطری انگریزانو مونږ
د خپل سیاسی نظام له مخه
انگریزان نکړای شو او نه
مونږ خپلی ملی لسانی او فطری
مقاومت پرېښود نو ځکه مونږ
او تاسو په هر لحاظ یو والی
لرونو دې دپاره زه همېش په
دې احساس کښې بوخت راغلی یم
چه د شاه شهید « رح » په
توره گټلې خپلواکۍ په جشن کښې

به کـله شر یکـیزم زما
د کـورنـۍ هر کـس په دی جشن
کښی شریك شوی دی یوازې
یو بدنصیب زه یم چه دغلامۍ
په ورځو کښی ما ته دخپلو سیاسی
سر کـړمیو له کبله پاسپورت
نه را کـړ شو چه پاکستان جوړ
شو نو قیوم شاهۍ زه سم دلاسه
زندان ته راښکیل کړم بوره او
کاله پس چه له زندان نه ووتم
نو دجمهوریت داعلان نه مخکښی
د لوی پښتون د تحریك سره
دذهنی او عملی تړون په جرم
کښی دومره معتوب وم چه جرئت
مې نشو کړای چه دجشن دپاره
پاسپورټ ته درخواست قدرې
مې هم کـړی وی د جمهوری
د اعلان نه پس نو وروستنی
جشن کښی زه د یو آزاد تقریر
کولو په الزام زندان کښی پروت وم
سبز کال دا امید پیدا شو چه
دپاکستان او افغانستان ترمنځه
د تعلقاتو دښه کیدو له کبله
به زه دیو زائر په حیث په دې
مقدس جشن کښی هرو مرو
سریکیدی شم او زما د تګ په
لار کښی هیڅ یو بندیز به نه حائل

کیږی بری دپاسه ستاسو دجانبه
د بلنې لیك راورسیده ماوویل
جوړ زه په تاسو کښی ناست
د ژبیوهنې ځینې څېړنې کوم
لګیایم پولیس په خلاصو متوریدو
پاسونه هرچاته ورکـوم ماهم
درخواست وکـړ ولی ما ته په
جواب کښی دریدو پاس دنه
راکـولو او پاسپورت دحاصلولو
وویل شول زما د خوش فهمۍ
مانۍ درځ پریوته احساس مې
وشو چه دافغانستان او پاکستان
روغه په اصل کښی دینجا بیانو
او دافغانانو روغه ده د ورونو
ترمنځه لاهم هاغسې تربګنۍ
ساتلی شی خوزما یو دوست ما ته
په دې نا امیدۍ پیغورغوندې
راکړه مادبین المللی پاسپورټ
دپاره درخواست وکړاو داحتیاط
دپاره مې ټول قانونې مقتضیات
ور لره پوره کړل له څلورو پنځو
ورځو پس دمرکزی حکومت
له طرفه زما د درخواست
دنامنظورۍ جواب وشو ، په
دی کښی دلچسپه خبره داوشوه
چه وزیراعظم فیروز خان نون
په کومه ورځ په بیان کښی دا

خبره وکړه چه پاکستان یو
جمهوری ملك دی زندان نه دی
په دې کښی هرسړی ته دا حق
حاصل دی چه دکوم یو ملك
د پاسپورټ دپاره درخواست
وکړی او دحکومت فرض دی
چه هغه ته داپاسپورټ ورکړی
هم هغه ورځې ما ته د خپل
درخواست دنامنظورۍ اطلاع
کیږی .

(رموزمملکت (.....) خسروان دانند)

دافغانستان ادیبانو !

پښتنو ورونو او مشرانو !

تاسو به ګواه یئ چه ماستاسو
په خوشحالیو کښی شریکیدل
خپل مقدس فرض ګاڼه خودا
فرض مې ادا نکړای شو زما
د سیاسی ژوندون او د هغې
داعمالو د مکافاتو د ارویداد
واوریئ او دهغې نه پس زما
د مجبورتیا جاج هم وا خلیئ
سره ددې چه ستاسو یو ورور
ستاسو په خوشحالیو کښی
شریکیدل د خپل پلار نیکه
وراثت ګڼی ولی د قام سره
دمینې دسیاست په بدعملۍ (کهوی نو)
کښې لکه دجولاګی ګیر دی .

جمهوریت وی که آمریت محل
وی که جونګړه جولاګی به
پخپله جاله کښی ګیر وی زه
هم که دانګریزانو په محکومیت
کښی یم که مسلمانانو په
پاکستانی کښی دقام دمینې په
جاله کښی به لتې تکوم اوددې
بد عملۍ په پاداش کښی به

دخپلې خوښۍ او خواهش مطابق رپ
نشم وهلای نو زمامشرانو ورنو
زما له جانبه د اعلیحضرت
محمدظاهرشاه خان او سردار
محمد داؤد خان حضور ته او
دافغانستان ټول واس ته د زړه
داخلاصه دخپلواکۍ مبارك باد
ورسوي ءزه اوس نور څه نشم لیکلی:-

مرا در دیست اندر دل اگر گویم
زبان سوزد
و گر دم درکشم ترسم که مغز
استخوان سوزد

ستاسو یو بی وسه ورور
حسین بخش کوثر غوریا
خیل پېښور
۲۸- آگست ۱۹۵۸ ع

ښاغلی لونګین

لیدل غواړم

کله ئې زړه کښې ځائېدل غواړم
کله یې مخ ته سوزېدل غواړم
نور مې بېلتون سره روزګار نه کېږی
ځکه ئې خوا ته لنډېدل غواړم
چه پری رڼا شی دخو بانو محفل
لکه د شمعی بلېدل غواړم
کېله می خولې ته نوره نه را درومی
لکه پتنګ په اور دنګل غوړم
چه حرکت مې موقوف وی په چا
په خپلو پښو ودرېدل غواړم
د پښتنو مینې د ژوند د پاره
په خپلو وینو لمبېدل غواړم
یا به پړاو د آزادۍ ومومم
یا خود ځانه ورکېدل غواړم
نور مې دمرګه وپره ور که شوله
چه د مارانو لو بېدل غواړم
دابې در دان په در دونه پوهېږې
هغه آشنا ته رسېدل غواړم
تا ته ئې غوږ ته رسولې بده
په دغه باب کښې غږېدل غواړم
که دې وږمې چیرې په مونږ راغلی
داسې در دونه روښوول غواړم
ولې دې هېره کړه زمونږ ماجرا
پدې راز و نو پوهېدل غواړم

چه سراسر مې یار خبر کړی په حال
د « لونګین » سره لیدل غواړم

دښاعلی محب الله « نکته » لیکنه او تتبع

ساینس او فلسفه

دلاندینو کرښوله لیکلونه زما هدف دا نه دی چه د ساینس او فلسفې تولې څانګی وڅېړم او ددی موضوعاتو ټول تاریخی حالات بیان کړم بلکه ددی مقالې لمړنی او اصلی منظور دا دی چه له ابتدا نه تر اوسه پوری د فلسفې او ساینس پر روابطو باندی نظر واچوم او ددی دواړو څانګو اصلی لاری وتاکم که څه هم دا کار ډیر مشکل دی، او زما علمی قدرت دومره نه دی چه دغه وظیفه په ښه توګه سره په دی وړوکې مقالې کښې پای ته ورسوم خو بیا به هم زیارو باسم چه تر څو پوری مې وسه رسیږی دا موضوع روښانه کړم.

څرنګه چه دئی پسیتمو لوجی (د فلسفی هغه څانګه چه د پوهې ماهیت او ارزښت څیړی) پوهان وائی، د علمې تحقیقاتو موضوع خپله طبیعت دی، علمی تحقیقات له هغو کتنو او تجربو څخه عبارت دی چه د طبیعت پر تحولاتو باندې وشی او دا تغییرات د قوانینو په توګه تعبیر او په مختلفو علمې جدولونو وویشل شی بشر غواړی چه پر له پسی د نوو په اختراع کولو خپله پوهه لا زیاته کړی او ددې علمی معرفت د صحت درجه ډېره کړی دغه کتنی او تجربې د طبیعت جزئیات مونږ ته په روښانه ډول ښیی او ورځ په ورځ د حادثو ترمنځ ابهام لږوی ځکه چه که څه هم دا علمې قوانین عین حقایق نه دی او د انسان فکری ساختمان پکښې دخالت لری اما بیا هم د حقیقت یو نسبی دقیق تصویر ګڼل کیږی په کلی ډول سره د علمی نظریاتو مطلب دا نه دی چه پر جزئی مجهولاتو باندی ودریږی بلکه غیر له دی چه جزئی مجهولات په نظر کې ونیسی غواړی چه د کلی عناوینو لاندې د طبیعت اهمیت روښانه کړی او دا نظریات باید له تجربې نتایجو سره تضاد و نه لری. څرنګه چه د فلسفی تاریخ د متضادو فلسفی نظریاتو د جګړو یوه مجموعه ده مونږ نه نشو کولی د فلسفی د پاره په تاریخ کښې یو واحد تعریف ومومو دا ځکه چه په دی باره کښی مختلف نظریات شته دی.

د (ولټیر) یوه قصه ده چه دلته ئی دیادونی وړ بولم وائی چه یو وخت دوه تنه ژوندې وجودات له مریخ نه زمونږ کری ته راښکته شول. او زمونږ د علماؤ نه ئی د لمرسپو زمۍ کائناتو او نو روساینسی مسئلو په باره کښې سوالونه وکړل او زمونږ د علما وله ځوابو څخه ډېر خوښ شول او هغه وخت چه زمونږ د علماو «روح د ماهیت» د مادی د حقیقت د فکرو منبع او همدغسی نور فلسفی سوالونه وکړل د فیلسوفانو ترمنځ جګړه ونښته یو به د ارسطو او بل د (دکارت) او همداسی نورو نظریات وړاندی کول هر یوه به کوښښ کاوه

چه خپله نظریه دحقیقت په ډول مریخي موجودا تـو ته وښيء هغه وخت چه زمونږ له فیلسوفانو څخه یوه وویل (ټول کائنات دمځکې دساکنانو لپاره خلق شوې دی) دمریخ موجوداتو پری وخندل چه ټوله مځکه په لړزه شوه (ولټیر) داقصه په ۱۸۵۰ کال کښې لیکلی ده اما که دغه مریخیان په شلمې پیړۍ کښې هم راشی وبه وینی چه همغه حال دی چه په مخکښی ؤ اواوس هم داسی خلك ډېر دی چه مځکه د کائناتو مرکز ګڼي خودوی به اوس یو بل حقیقت ته هم ملتفت شی هغه داچه په ساینس کښې هم څرنګه چه پخواو هم آهنګی نشته (ما کس بلانك) دکوانتم تیورۍ کاشف عقیده لری چه په ننی عصر کښې داسی یوه علمی تیورۍ چه څوك ورسره مخالفت ونه کړی ډېره نادره ده علمی دقیقو قواعدو خپل پخوانی حتمیت او قیمت له لاسه ور کړی دی. ننی فزیك پوهان دعلمی نوو قواعدو د کشفولو لپاره تر ډېر حده پوری دفیلسوفانو شکل غوره کړی دی.

اوس راځی چه وڅیړو ساینس اوفلسفه له پخوانه ترنن ورځی پوری څرنګه روابط سره لرل د(اپیك تی تس) (Epictetu) اوهغه غوندی نورو کسانو لکه (هیرودت) په عقیده دفلسفی اصلی معنی تفکر له تفکر لپاره دی اودپوهې پلټنه صرف دپو هیدو لپاره نه بلکه د کار اوعمل لپاره ده ارسطو خپل متافزیك په لاندینو کلماتو سره شروع کوی «دټولو خلکو په طبیعت کښې دپوهې پلټل یوه غریزه ده چه دا غریزه له عملی سوقونو څخه بې نیازه ده او کټورتوب دلته کوم رول نه لوبوی».

پس له دی چه دافلاطون عقیده «دفکری استعجاب یواځنۍ او مهمه سائقه دفلسفې دترویج لپاره ده» خپره شوه ارسطو وویل همدا دلمر سپوږمۍ او کائناتو په باره کښې فکری استعجاب اوحیرت وچه بشرئی تفلسف ته مجبور کړ. دپورتینو دلائلو څخه داسی معلومیږي چه فکری استعجاب (انټی لکچول کیو راسټی) دفلسفی په جوړښت کښې یوه مهمه سائقه وي امادې کلاسیکی فلسفی تعریف په مقابل کښې چه تفکر دتفکر لپاره یاصرف ددې لپاره چه انسان دناپوهی اوعجز په مقابل کښې تفلسف کوی څو عصرې او نوی مفاهم او تعبیرونه هم دفلسفی اوعلم په باره کښې شته دي.

د لسمۍ پیړۍ په شروع کښې انګلیسی مشهور فیلسوف (فرانسیس بیکن) وویل (مونږ دخپلی پوهی په اندازه دعمل قدرت لرو) ددغی مفکوری سره دپوهی نوی تعبیر خپور شو یعنی علم پرطبیعت باندی دیو قدرت په حیث وګڼل شو اودپوهی ځان ځانی له مینځه لاړه بلکه دپوهی هدف دطبیعت تسخیر اودبی تجربی اعمالو لپاره دهغی آماده کول وګرزول شول

بیکن وویل «علم قدرت دی» په نولسمه پیړۍ کښې فرانسوی عالم (اگست کمت) ولیکل «لیذل دپیش بینی لپاره اوپیش بینی (پیش گوئی لپاره) کارل مارکس وائی «داچه دآفاقی ( ) واقعیت تصویر دبشر په دماغ کښې انعکاس کوی دتیورۍ خبره نه ده بلکه کاملاً عملی جنبه لری» د(جان دیوی) په فکر «پوهنه اوس دتفکر اومراقبې له انحصار نه وتلی ده اودعمل دگرته ننوتی ده او پوهه باید دعمل لپاره یوه اله شی» د(دیوی) له عقیدی سره سم داخبره رښتیا ده چه په ساینس کښې مراقبه په کار نه ده همداؤ چه دیونان ساینس سره له خپل قوی تخیل کمزوری پاتی شو. دا ځکه چه هغه وخت دساینس په طبیعت کښې مراقبه اوتفکر ډیرزیات اومشاهده او تجربه پکښې لږه وه که دنن ورځی فزیك یاشیمی عالم وغواړی چه یوه شی باندی پوه شی مراقبه او تخیل نه کوی بلکه په عمل لاس پوری کوی نو(دیوی) پس له دی چه دساینس علمی او تجربی څیره ښه ترسیموی دې نتیجې ته رسیږی چه فلسفه دی هم عملی اوتجربی شی. پس له (دیوی) نه(ویلیام جیمز) وائی «یواځی هغه مفکورې صحیح دی چه په مطلوبه ډول سره عملی وی» جیمز، خپل نوی فلسفې ښوونځی چه(پراگما تیزم) نو میږی پرانیسته ددی ښوونځی دپیروانو دعقیدې سره سم هره هغه تیورۍ چه عملی مفادنه لری پوچه او غلطه ده. مثلاً تاسی دبریښنا په باره کښې څه شیان غواړی چه پوه شی؟ ددیوی له عقیدی سره سم باید یواځی دبریښنا پرتطبیقی قواعدو باندې پوه شو او نور نظری او علمی مسایل چه دبریښنا په باره کښې شته متافزیك دی. په دی مسایلو پوهیدل څه فائیده نه لری اومونږ بایدیواځی گټورتوب ته وگورو که څه هم پراگما تیزم دغه مفکوره چه فلسفی اوساینس منشأفکری استعجاب دی له منځه وړی ده او فلسفې ته ئې یو عملی اوتجربی رنگ څرنگه چه ساینس ئی لری ورکړی دی خود ساینس اوفلسفې اصل قیمت پرعملی ذاتی اوئی پیستیمولو جیکی اساساتو باندې بنادی لکه چه داگتر بریج لیکی اتمی بمب رادار او توغندیو ته ساینس نشوویلی ساینس دطبیعت دپټو اسرار ومخ لڅول دی دساینس وظیفه داده چه پر طبیعت پوه شی دساینس هدف اختراع کول نه بلکه کشف کول دی نود دیوې اودهغه دپیروانو له عقیدی سره سم بشری پوهه دیوه خسیس تاجر (چه دطبیعت سره صرف دورځې او مفاد پراساس معامله کوی) په درجه تنزل مومی لوئی پاستور چه دعصری ساینس له موسسینو څخه دی لیکی «عمل غیرله تیورۍ نه صرف یوه ساده لاره ده چه له عادت سره سمه اجرا کیږی اما تیورۍ یواځی کولی شی

چه داختراعاتو او اکتشافوتو دپرمخ تګ سبب وګرزی، پورتنۍ خبری که څه هم باطلی دی اما بیاهم دمیکانیکی عمل او پراګماتیزم دفلسفې طرفدارانو ته ښه درس ګڼل کیږی دفلسفی او ساینس دواړو مقصد داودی چه پوهه صرف له پوهی لپاره ولټوی نو په دی صورت کښې به ددوی فرق څه شی وی؟ دبشری تمدن په لمړنی دورو کښې دساینس او دفلسفی ترمنځ څه توپیرنه ومثلاً په یونان کښې ارسطو لمړنی فیلسوفان دفزیك دانانو په نامه یادوی. (تالس) تاګور، انا کیسماندر او نورو یونانی فیلسوفانو په داسی موضوعاتو باندې کار کړی دی چه اوس دفزیك شیمی استرونومی، (علم نجوم) بیولوژی او ریاضی پوری اړه لری په مترقی ډول سره دساینس او فلسفې بیلیدل یو اځی دارسطو په وخت کښې شروع شول چه ریاضی استرونومی طبیعیات طب، او ګرامر له فلسفی نه وایستل شول حتی په اولسمې پیړۍ کښې هم نیوتن خپل علمی اثار (دطبیعی ریاضی قانون) په نامه خپاره کړل او اوس هم چه دساینس کورسونه ساینس او فلسفه دیوه (واحد) په توګه ګڼله دغه مفهوم چه اوس مونږ په ښه ډول سره پری پوهیږو هغوی ئی احساس کاوه. هغه دا چه ساینس غیر له فلسفی نه یوه شتمنه مجموعه ده چه وحدت دی بلری یا په بل عبارت یو جسم دی چه روح نه لری آما فلسفه غیر له ساینس نه دغسی یو وحدت دی چه جزائی معلوم نه دی او داسی یو روح دی چه جسم نه لری. ولی چه ساینس دحقیقت یو اړخ مطالعه کوی او دساینس هرشق ځانله دطبیعت له جلاجلا برخو سره په ازاده ډول اړیکه لری دعمل دساحی ویشل په ساینس کښې یوه میتودولوژیکی اړتیاده چه تراوسه پوری ډیره ښه بریالۍ ثابته شوی ده نو نتیجه ئی داده چه زمونږ پوهنه برخی لری او په دی سبب هیڅ یو خصوصی ساینس کولی نشی چه زمونږ ټول ذهن را اشباع کړی ساینس دعلمی جلاجلا حقایقو [تکامل وحدت] نشی جوړولی او دا دفلسفی کاردی چه خصوصی ساینس بیلی بیلی څانګې په یوې واحد [ایډی] سره یو کړی او د څواړ خیزو حقایقو اهمیت او ښیګڼو یو تر بله سره دارتباط په حال کښې مطالعه کړی. نو هرهغه سوال چه یوی ساینسی او یا بلی مسئلی ته دکلی حقیقت یا علمی وحدت د مفکوری سره رابطه ور کوی یو فلسفی سوال دی په تاریخی جریان کښې دفلسفی په کړ نلاری کښې ډیر تغیرو نه راغلی دی او د ژوندانه ترخی او خوږی ئی لیدلی دی دیونان او روم په دوره کښې فلسفه د ساینس دسرتاج ګڼل کیده پس له دی نه چه مسیحیت په روم کښې رسمی مذهب شود [ژوستینن] په امر دفلسفی ښوونځی په اتن کښې و تړل شو او تقریباً تر اووسو و کلو پوزی بندې

وی وروسته چه اسلامی تمدن په هسپانیی کښې خپور شو او د ارسطو کتابونو د اعرابو په واسطه اروپا ته لاره پیدا کړه فلسفه بیا د مسیحیت ډګر ته راووتله اما د مذهب دوېری له کبله مجبوره وه د مذهبی مقرراتو حقیقت تائید کړی که څه هم فلسفه د دکارت . سپینو زا یبتزا او نورو په واسطه لوړ مقام ته ورسیده اما تن هم دا سی خلك شته چه فلسفه د مذهب مزدوره ګڼی او هر هغه فلسفی نظریه چه یو مذهب سره تضاد و لری په شدت ئی ردوی په اوسنی عصر کښې فلسفه دوه اړخیزه جګړه لری نه یواځی د هغو سره چه فلسفه د مذهب مزدوره ګڼی بلکه د هغو مفکورو سره چه فلسفه د ساینس تر اثر لاندې ګڼې او همدا په حقیقت کښې د منطقی مثبتیت مقصد دی زما په عقیده دا لوی او زورور تحریك چه تن د فلسفی په مقابل کښې روان دی یو رنګه ضد فلسفی فلسفه ده چه غواړی د فلسفی تاریخی نوم بدل کړی او ورباندې د [ساینس] نوم کیږدی د منطقی مثبتینو د عقیدی سره سم د فلسفی یواځنۍ وظیفه داده په علمی مفاهیم تحلیل کړی او د هغی نه یو منطقی روښانه تصویر لاس ته راوړی که څه هم د منطقی مثبتیت لوی امتیاز په دی کښی دی ډېر باطل شیان ئی له منځه وړی دی اما بیا هم د فلسفی د عمل لپاره یی یوه ډېره ټینګه لاره غوره کړی ده څرنګه چه ساینس د یوه مشخصه افاقی شی مطالعه په څواړخیز صورت کوی او زیار باسی چه د هغه شی او محیط پر واقعي ارتباطاتو باندی پوه شی .

فلسفه د یوه ذاتي یا عندی فکر او یو افاقی شی [چه دغه فکر ورباندې مطالعه کوی] تر منځ روابط تاسیسوی او پر دغه روابطو باندې څېړنه کوی ، او یا په بل عبارت ساینس د اشیاؤ په منځ د څواړخیزو مناسباتو [چه پر نړۍ باندې حاکم دی] کتنه کوی او حال دا چه فلسفه د انسانی نفس [په حیث د ذات] او باندنۍ نړۍ [په حیث د شی] روابطو سره لری ساینس د اشیاؤ څواړخیزه آفاقی څېړنه کوی غیر له دی نه چه عندی یا ذاتی فکر په نظر کښی ونیسی حال دا چه دا انسانی شعور [عندی یا ذاتی] نه یواځی مشاهد او متفکر دی بلکه د تکامل په لوری روان دی نو ساینس خارجی نړۍ نه و خالص تصویر باسی چه له مفاهیمو څخه عاری وی مثلاً د ساینس لپاره آس د مچ نه کوم زیات مفهوم او قیمت نلری ځکه چه دواړه د بیولوژی پر آساساتو باندی مطالعه کیږی د میتو دولوژی دلانلو سره سم ساینس حق لری چه د اشیاؤ د څواړخیز وڅېړنی لپاره یواځی منطقی ، ترسیمی او ریاضی شکل غوره کړی

نو په منظم ډول سره ساینس دیوه معین شی او متفکر مشاهد او متکامل مغز ترمینځ دمناسباتو دبرقرارولو په سبب نشی کولای چه دنړۍ یوه روښانه او صحیح څېره وښی او دا څېره دفلسفه له خوا اکمال ته نژدی کیږی چه وظیفه ئی دیوه شی اوذات ترمینځ نقدی پلټنه ده څرنګه چه داذات نه یواځی متفکر اومشاهد دی بلکه دتکامل پرلوری هم پرمخ درومی نوددوی روابط هم دتکامل په هری مرحلی کښې ډول ډول قیمونه ځانله غوره کوی . . . . .

نو په دې ترتیب سره دفلسفی لار معلومه ده یعنی دیوه شی او ذات یادسبجکټ او آبجکټ ترمینځ دمناسباتو څېړنه دفلسفی کاردی داښکاره خبره ده چه دیوه مشخص آفاقی شی او یوه معین مغز (چه پردعه شی باندی تفکر کوی) ترمنځ رابطه عبارت دی له واقعیت حقیقت او قیمت نه نومونږ دفلسفی تعریف په دی ډول کولی شو: فلسفه عبارت له هغی نقدی څېړنی څخه دی چه دحقیقت واقعیت او قیمت په باره کښی وی او ددوی پر اهمیت باندی (کلی علم) دآیدی لپاره کتنه کوی. فلسفه زیار باسی چه دپوهی حقیقت او دپیژندنی وړ شیانو قیمت تعیین کړی دپورتنی تعریف سره سم دفلسفی ډګر ددی نه چه دساینس مینځه وی ډیر وسعت مومی ټول طبیعی علوم دخپلو تحقیقاتو سره سم ډول ډول نتیجی ته رسیږی اوزیاد باسی چه ددغو نتائجو د صحت او دغه (صحت) د خطر ناکو عقایدو په مقابل کښی محافظه کړی اما دساینس داسې کومه ځانګه نشته چه خپله د حقیقت پرمفهوم باندې وغږیږی دا کار دفلسفی له خوا اجرا کیږی ساینس وائی کوم شیان حقایق دی امافلسفه وائی په خپله حقیقت څه شی دی ټول ساینس کوښښ کوی.

چه یو طبیعی قوانینو او نوامیسو باندی یوه شی امافلسفه څېړنه کوی چه څرنګه یو متفکر شخص دقواعدو کشفولو ته رسیږی پدې ډول فلسفه دیوه طبیعی قانون دمفهوم اوساختمان مطالعه کوی، اونن دمروخت نه زیات دساینس آخر نې سوالونه فلسفی ته ځانی اړیولی ساینس دخارجی نړی داصولو (غیرله قیمتولو څخه) مطالعه کوی حال داچه قیمتونه زمونږ دانسانی نړۍ یوه اوبه رخه ده نسانی ټول اعمال فردی وی که اجتماعی له مادی احتیاجاتو او عقدوی قیمتونو څخه منشاء اخلی که پوهانه دځان دپاره دساینس یوه بیله ځانګه غوره کوی سبب یې دادی چه دساینس پرقیمت باندی اعتقاد لری خو دفلسفی وظیفه ده چه په دی باره کښی زمونږ ددماغ خلاډ که کړی لکه چه البرت اینشټاین لیکی. دساینس پوهه عجیب شی دی خو ډیر لږ دلارښو ونی قدرت پکښې شته

حتی ددی اثباب هم نه شی کیدای چه دحاصلولو ارزښت لری او که نه بدې ډول فلسفه برسیره پردې چه دساینسی مفاهیمو تدقیق کوی داهم کولی شی چه دانسانی ژوند مختلفی خواوی لکه هنر، اقتصادیات اخلاقیات قانون، مذهب، ټولنه تصوف ژبه او تاریخ هم وڅیړی.

که څه هم ما دفلسفی دپاره یو پراخ ډګر فرض کړې دی اما بیا هم غواړم چه دفلسفی څو خطرناک هوسونه محدود کړم زما په عقیده فلسفی ته ښائی چه دا مفکوره له لاسه ور کړی چه دا کولای شي دخپلو مطلقو عناصرو په واسطه غیر له ذهنې او نظری فکر څخه خارجی اشیا تشریح کړی.

دذاتي مطلقه حقائقو تشریح چه دفلسفی له خوا کېږی یواری سمبولی شی وی چه ددې سمبولی اصلی مواد په خارج کښی دساینس په واسطه ښودلی شوی دی دفلسفی اهمیت او حقیقت پدی کښی نه دی چه ټول شیان چه ذاتی شرح کوی دی دخارجی حقایقو نقل او دتیپوی یک فکر څخه جلا دی بلکه دفلسفی اهمیت دادی چه دده عناصر په قوی ډول سره دخارجی واقعیت او تجربی حقیقت او به وی نو په دی صورت کښی داامکان شته چه دانسان او خارجی نړۍ دروابطو لپاره مختلف مفهومونه او سمبولونه (تښی) وضع شی او لدی سببه چه په خارجی نړۍ کښی متنوع آفاقی اشیا شته دا امکان موجود وی چه رازراز فلسفی ښوونځي منځ ته راشي چه هر یو بې لدی چه منطقی تضادولری په آزادانه ډول سره دانسانی (ذات په حیث) او خارجی نړۍ (دشی په حیث) ترمنځ رابطه کلکه کړی همدا وجه وه چه په تاریخی دورو کښی رازراز فلسفی ښوونځی پیداشوی دي که په دګناتیکی ډول سره ومنو چه فلسفه دخارجی نړی دحقائقو تصویروی نو دلته به مونږ له سل ګونو فلسفی ښوونځیو څخه یوازی یو منلی وی اما داعقیده پوچه ده: ځکه چه رازراز فلسفی ښوونځی یو خارجی تجربی حقائقو باندی تطبیقیږی. او مونږ ته نشو ویلی چه یو بی صحیح او بل بی غلط دی بلکه باید داټول فلسفی نظریات ومنو یواځی هغه فلسفه غلط ده چه په ځان کښی تضادولری او تجربی حقائقو باندی نشی تطبیقیدلی داسی فلسفی ښوونځی چه منطقی اصولو باندی ټینګ نه وی که پورتنۍ کرښې کښې په نظر کښی ونیسونو به ښه راته معلومه شی چه دو لټیر مریخی موجودات ولی له مختلفو فلسفی ځو ابونو سره مخامخ شول داختلافات دفکری کمزور تیاله کبله نه دی بلکه انسانی فقر او غنا او فکری ظرفیت ښئی دفلسفی او ساینس ترمنځ قوی اړیکی زمونږ په پیړۍ کښی هغه وخت چه

(پاتی په ۴۴ مخ کښی)

مترجم : محمد صدیق (رومی)

دچین نننی ادب

- ۲ -

په دی خبرو کښې دې ته اشاره وشوه چه ادب باید دخلکو لویو ولسونو ته خدمت وکړی . لکن « دخلکو لوی ولسونه » څوك دي؟ دخلکو لوی ولسونه چه هغه دټول نفوس په سلو کښې له نوی څخه زیات دی د ګار ګرانو، بزګرانو لښکریانو او دښار له وړو بورژوا څخه عبارت دی ، همدا څلور ډوله خلك دی چه لیکونکی باید دهغوی لپاره خدمت وکړی . دوی ته دخدمت کولو مفهوم دادی چه باید هغوی ته دژوند او مبارزی ، ددوی دافکارو او احساساتو دښکاره کولو او برسېره پردی ددوی دوینولو او لارښوونې دپاره لیکنې وشی او یوازی ددې لپاره چه دوی ژوندو کړای شی او دخرابکارو عناصرو په مقابل کښې خپلو مجادلو ته دوام ورکړی . او مړی او تر هر څه دمخه ، دالازمه ده چه دمزدورانو ، بزګرانو او لښکریانو تمایلات څه ناڅه ارضا کړی شی . د نیمه فیوډالی او نیمه استعماری ، اجتماعی سیستم په اوږده دوره کښې د نوموړو ډلو له کلتوری او تعلیمی پرمختګ څخه ډډه شوی وه . اوس چه دوی د استعمار او فیوډالیزم په مقابل کښې مبارزی ته تیار شوې وو ددوی د تشویق اولارښوونی دپاره په زیاته اندازه ضرورت موجود و ، . نو له همدې امله دهغو لیکونکو ، کوم چه خلکو ته دخدمت کولو ادعاء کوی ، لومړی وظیفه داده چه مزدورانو ، بزګرانو او لښکریانو « عسکرو » ته نطقونه ایراد کړی او ددوی دپاره څه ولیکی . د ؤ ددی خبری مفهوم چه « ستاسو لیکنی باید دزحمت کشانو ، بزګرانو او لښکریانو دپار وی »

رئیس ماؤ تسی تونګ همدا رنګه دخپلو خبرو په ترڅ کښی دابتکاری لیکنو له پوښتنی سره هم تماس وکړ . ده د اخبره کلکه کړه چه دخلکو ژوند دهنر او ادب له چینو څخه تازګی او سمسورو الی مومی . « پخپله د خلکو په ژوند کښی دادب او هنر دپاره داو موموادو کان شته ..... چه هغه ددوی لپاره دیوه خورا ښه منبع حیثیت لری . » نو له همدې امله ، « ټول هغه هنرمندان چه دیوې ځلاندې راتلونکی خاوندان دی ، باید سر له اوسه او دزړه له کومې دولسونو منځ ته ورننوځی ، دولسونو د کار ګرانو ، بزګرانو او سربازانو دآتشینو مجادلو حرکت پرمخ بوزی او یوازې همدې مړی او پراخې سیمې ته دلیدلو ، ورښودلو او پرمخ بیولو دپاره ورشی دوی باید دهنر او ادب دکان او موموادو ته ، کوم چه دژوند او مبارزې عښتلی او پیاوړی نمونی بلل کېږی ، پخوا له ابتکاری لیکنو څخه ، دخپل چاپیر اوضاع ښه تحلیل او ورزده کړی . » هر لیکونکی یوا ځی هغه وخت کولی شی چه د فورمولیزم

او بی اساسه تعمیم له اشتباهاتو څخه ځان وژغوری کله چه دواقعی ژوندژوروته په ځیر سره ورننوځی :

داخبره پوره درسته ده چه زموږ دنوی ادب لیکونکو خپل ځانونه د خلکو دخدمت لپاره وقف کړی دي . که چیری هر څوك د یوه مشترك مقصد او نصب العین دپاره خپل کوششونه جاری وساتی په پای کښی به ډېرې مشکلی پوښتنی لکه گوندیماری په ادب او هنر او داسې نورو موضوعاتو کښی پخپله دحل لاره پیدا کړی که هر لیکونکی د خلکو خدمت له هر شی نه لومړی و گڼی د گوندیماری (حزب بازی) وجود به هم ختم شي :

دینان هنری او ادبی ټولنی (forum) د ادبی تمایلاتو په آزاد ډگر کښې لوی لوی تغیرونه راوستل لیکونکو دخلکو د ژبې دزده کولو او ددوی د ژوندانه د مختلفو اړخونو دتحلیل په علمی او عملی لاروسره او د ژوندانه له تجربو څخه داستفادی د پاره خپل ځانونه وقف کړل. ډیره موده نه وه تیره شوی چه لیکونکو نسبتاً ډېر غوره آثار ولیکل .

(چاوشولی) پس (دینان) له ټولنی څخه لومړی بریالی لیکونکی ؤ دده (هسیا ارهی واده» او د «لی یونسای قافیې» دده لپاره زیات شهرت وگاټه . په دی آثارو کښی دی هغه لوی تغیرونه چه نوی دهیواد په اطرافو کښی ځای نیسی . د کلیوالی گډوډ ژوند په منځ کښی راښی او هغه صادق اوزړه ور بزگران کومو چه خپل ځانونه داسارت له ځنځیرونو څخه آزاد کړی دی، تمثیلوی . کومه ژبه چه دی پخپلو آثارو کښی استعمالوی هغه دخلکو ساده او له معنی ډکه ژبه ده او دده سبك په ښکاره ډول چینی دي : د دی وخت له ځینو ونورو غورو آثارو څخه د ټینگ لینگ ناول «لمر د سانگ کان پر سیند باندی ځلیږی» او دچولی پو ناول «گردباد» دی چه دواړه دمځکی داصلاح په وخت کښی دبزگرانو له افکارو او احساساتو څخه ترجمانی کوی. د «سپین سری نجلۍ» اپرا چه د ځان سره یولوی پیغام لری، د هوچینگ چه او ټینگ بی په وسیله؛ دملی اپرا په یونوی شکل کښی لومړنی بریالی کوشش ؤ.

کوم ادبیات چه دولسی چین دجمهوریت له جوړیدو ۱۹۴۹ څخه را په دیخوا لیکل شوی دی، دچین دورو ستیو دیر شو کالو یو بل انکشاف او پرمختگ بلل کیږی :

هغه پروگرام چه دینان دادبی او هنری ټولنی په خبرو کښې منځ ته اچول شوی ؤ دهیواد د ټولو لیکوالو له خوا حمایه او تائید کړی شو. دادنوی چین د ادب د پراختیا لپاره یو مهم علت ؤ، دی حزبی شعار چه «دخلکو خدمت وکړی» دچین لیکونکی ددې وړو گرځول چه پخپلو کښی دیخوا په نسبت زیات یووالی ټینگ کړی. دا اعلامیه دلیکونکو او هنر والو د ملی کانگرس په غونډه ۱۹۴۹ کښی خپره شوه.

د دې کانگرس د مرکی نتیجه دا شوه چه د ټول چین

دادبی اوهنری دائرو اتحادیه
جوړه شی چه یه هغه کښی
به دافرادو پرځای غړی کار
وکړی. دادمترقی جبهی دلیکونکو
اوهنروالومؤسسه به یه تول هیواد
کښی خورا لویه موسسه وه ددی
اتحادیی سره پنځه ملی اتحادبی
او دهغه له جملی څخه دچینی
لیکونکو یه نامه یوه اتحادیه
یو ځای شوی وه، دچین دلیکونکو
اتحادیه یوه داسی مؤسسه وه
چه یخپله دچین دلیکونکو لخوا
جوړه شوی ده، ددي اتحادبی
وظیفی دادی: دلیکونکو دپاره
دآسانتیاؤ پیدا کول، دکار
مطالعه او پلټنه، ددری سره دژوند
یه هغو مسائلو کښی له کومو
سره چه بنائی دوی محامخ شی
مرسته کول، دا یو لیکونکو
پالنه اودادبی لو یو تو لنو
دخپلو ګټورو تجربو یو تربله
سره الیشول.

دچینی ادبیاتو وده چه دلوی
چین دتشکیل یه شپږو، او و،
وروستیو کلونو کښی یه عمده
دول لیدل شوی ده، یه دی لاندی
انکشافاتو کښی ده:

لومړی داچه زموږ لیکونکی
له ژوند سره له یخوانه زیات
تماس لری، له هغه ژوند سره چه
دوی ته ئی ددی استعداد
وربښلی دی چه دتولنی نحولانو
یو واقعی اوربښتینی تصویر
ورکړی یه تیره زمانه کښی
بی له آزادو ساحو څخه لیکونکو ته
داموقع یه لاس نه وه ورغلی چه
دتولنی یه باب کښی رښتینی
معلومات ولری ځکه چه
دکوامینتانګ حکومت دوی
ترممکنی اندازی پوری دکارخانو
له لیدلو او دکلیو دکارګرانو
اویزګرانو له تماس څخه منع
کول. سربیره پردی اکثرو
لیکونکوزیات وخت نه درلودچه
له خلکو سره خپل نهائی اوغایوی
ملاقاتونه وکړی شی. همدارنګه
دوی نشوای کولی چه فوری
پلټنی او څیړنی وکړی. دوی
اکثرو بی له ښاری ژوند څخه
چه یه هغه کښی ئی هم داشنایی
دائره ډیره محدود ده، دکوم بل
شی یه شاو خوا کښی تجربه
نه درلوده دکړو وړو یه ډګر
کښی ددوی د مقصد مهم ټکی

چه هغه دوړو بورژوا له روښانفکره
کسانو سره نژدیوالی ؤ،
محدودیانی شو، دنوی چین
تشکل دلیکونکو دپاره ددی زمینه
برابره کړه چه نو موړی
محصولونه مات کړی. دوی
دمخکی داصلاح کولو یه وخت
کښی چه دسلها ؤ میلو نو
بزګرانو له خوا ییل پری شوی و،
دهیواد یه بیلو بیلو برخو کښی
دول دول کارخانی او
راز راز کانونه وکتل
دوی هغه کارونه چه تیرو
خرابیو دتلافی اودنویو آبادیو
دکیدو یه غرض جاري وو،
ولیدل او دسربازانو او وسله
والو اتحادیو دژوند څخه
دخبرتیالپاره مخامخ شرکتونو
او اتحادیو ته ورننوتل. ددي
لیکوالو له دلي څخه ځینو
دامریکائیانو دیرغل پرضداو
دکوریا سره دمرستی یه لار
کښی، یا یه ځینو نورو کلتوری
او سیاسی عملیاتو کښی برخه
اخیستی ده همداد تجربو پایانګه
او ځینی نور نه محو کیدونکی
تاثیرونه ووچه زموږ لیکونکی

ئې په نړۍ لر زوونکو پېښو
کښې د دې وړو ګرځول چه
بو شمېر کارونه ، کومو چه
د خلکو له ژوند سره مستقیمه
اړه درلوده په بر یالیتوب سره
مخ په وړاندې بوزی یه دې
ډول کوم شی چه په اصلی موضوع
کښې ورك ؤ په ښه ډول سره
ښکاره کړای شو ددې مثالونه
ښایی چه د هسپاین په لوبه
ازمایښت (د کارخانې دژوند
په باره کښې) ، دلیوبی یوبه
ناول بلې لمبې (د آزادۍ د جګړې
په باب کښې) ، دیانك شو په
ناول د ګرژان هیو اد زرمیله
(دامریکې دیرغل اود کوریا
سره دمرستې دعملیاتو یه برخه
کښې) دلاوشه په لوبه اژدهازیری
هالینډی (زموږ د ښاری او
کلیوالی ژوند په باره کښې) ،
دتساویو په لوبه ځلانده ورځ
(دروښانفکرانو د ژوند په باب
کښې) وموندل شی . دا ټول
آثار د چین د ټولنې له هغو
مهمو پو ښتنو څخه چه دخلکو
له ژوند سره تماس پیدا کوی
ګڼل کیږی .

د نوی چین د ادبیاتو یوه

بله خاصه وجه دا حقیقت دی
چه آمانور (شوقی) لیکونکی
له پخوا څخه زیات فعال شوی
دی .

د چین د ادب تاریخ دنویو
آمانوری لیکونکو له پلوه ساری
نه لری ددې نویو قواؤ وده او
پرمختګ زموږ ادب نه دیوې
کامیابه رانلو نکی زبری را کوی
مثلاً د توپېنګ چینګ ناول
(له ینان څخه مدافعه وکړی)
د مثال په توګه راواخلیء په
دې ناول کښې چه دچین دانقلاب
په تاریخ کښې یوه مهمه واقعه
ده ، د چین د خلکو د آزادۍ
غوښتلو او دسربازانو دشرافت
او زړه ورتوب یو رښتینی
غیرتناك تصویر ښودل کیږی
اوموږ ته په هغه کښې د دوی
نبوغ او انقلابی خوشبینی له
ورایه څرګندیږی . یوشمېر
زیات آثار چه په دی نږدې
وختو کښې خپاره شوی دي
هماغه دچینی لیکونکو دا تحادیې
دځوانانو لیکو الوله خوا لیکل
شوی وو :

همدارنګه دې اتحادیې
د ۱۸۸ ځوانانو لیکونکو غوره

لیکونه او آثار خپاره کړل .
سبز کال دمې په میاشت کښې
دځوانو لیکونکو یوملی کنفرانس
پیکنګ ته را بلل شوی و ، چه
په هغه کښې له څلورسوو کسانو
څخه زیاتو کسانو ګډون درلود
د کنفرانس مقصد په دې ختم
شوچه دز رو اونویو تجربو په
اساس دنویو قواؤ د پالنې او
ودې کاریرمخ بوزی . زموږ
زیاتره لیکونکی بز کرانو ،
او بدونکو ښځو ، دتجارتی حرفو
کارګرانو او سربازانو ته شامل
دی کوم ولسی اقلیتونه چه
د کلتورله مخې بېرته پاتې وو
دا اوس اوس دخپل ځان دپاره
ښایسته لیکونکی لری د پنسك
(طلایی هینګان عر ونه) او
دملچین هو (دخولچین دجلګې
وګړی) دولسی لښ ه کیو
(اقلیتونو) د ځوانو لیکونکو
له بهترینو آثارو څخه ګڼل
کیږی دچینی لیکونکو اتحادیې
سبز کال یوه خصوصی غونډه
وکړه چه دملی لښه کیو دادبی
میراث دراټولو او دپاره کومه
لار ونیسی ؟ او څنګه دهغوی
ادبیاتو ته ترقی ورکړی

د کار گرانو ، بزگرانو ، سربازانو او د ملی لښکر کسیو له منځ څخه دلیکونکو راپیدا کیدل د چین په تاریخ کښې یوه مهمه پېښه ګڼل کیږی ، ځکه چه دا واقعه د چین هغه تحولات چه دخپلواکۍ له ابتدا څخه تر اوسه منځ ته راغلی دی منعکس کوی.

دچین ادبیات د درې زرو کالو زوړ تاریخ لری دبدلو کتاب، چه دښکلوشعرونو مجموعه ده د پنځه سوه قبل المیلاد په حدود کښې تألیف شوی و، دنهرودرې زرو کالو څخه را په دېخوا موږ ډېرلوی شاعران او لیکونکی لرو: چویوان، تاویوان مینګ: توفو لی پی، بی چو - یی، شیه ینی ان، ووچنګ - تزو، تساوهسیو-چن او نور. دچین د ژوندپه مختلفو دورو کښې دوی د چین فکری او هنری خزانه پخپلو آثارو سره ډېره شتمنه کړی ده کوم قیمتی میراث چه دوی موږته رابرېښود، که څه هم چه په مناسبه تو که سره ئې قدر او انکشاف بیانه موند، لکن دیوې زباتې مودی لپاره له نظره اویدلی و؛ په چین کښې سر بېره دهان له ملیت څخه، ټول ملی اقلیتونه له ادبیاتو څخه پوره غنی میراث لری که څه هم چه لحینی ئې لاتراوسه پورې تحریری ژبه هم نلری. مغلان، ویغوریان او ښتبان، چاچه خپلی ژبې لیکلی دی، له ډېر پخوا څخه ادبی غنمنې لری. راځئ چه مغل د مثال په ډول راواخلو. څه ناڅه له چنګیزخان څخه دوه پیړۍ پخوا د مغلو امپراتوری تأسیس شوه، دوی هغه نکلونه چه د خلکو په خولو کښې وو، ولیکل، او ډېر اساسی آثارئې ددې کیسو بنا کیښودل په دې آثارو کښې سړی د طبیعت هنری تصویر، اجتماعی ژوندا و روښانه وصف نه حیران پاتې کیږی کومو ملیتونو چه لاتراوسه خپلې ژبې نه دتحریر لباس نه دی وراغوستی (داژبې اوس د پیدا ښت په حال کښې دی) هم د نکلونو، سندرو او اشعارو له پلوه چه له پخوا څخه دخلکو په خولو کښې پښت په پښت راپاتې شوی دی د پره غنالری له ۱۹۴۹ څخه را په دې خوا زموږ لحینی ادبی نشراتی مؤسسو دچین د کلاسیک ادب خپرول او په چینی ژبه سره د ملی اقلیتونو د آثارو ترجمه په ذمه واری اخستی ده برسېره پردی ددې کار لپاره دوې مخصوصې مؤسسې جوړې شوې: یوه د کلاسیک آثارو چاپخانه او بله دملی اقلیتونو د آثارو خپرونه په چینی ژبه؛ د کلاسیک آثارو د کتنې او منلو په باب کښې هم منا قشه وشوه. موږ په مختلفو طریقو سره کوښښ کړی دی چه دخلکو په منځ کښې کلاسیک ادب دیوه کل به حیث تعمیم شی او د کلاسیک زده کړه او مطالعه په ښو ونځیو او ادبی مؤسسو کښې پر مخ ولاړه شی. دمثال په ډول کوم آثار چه دخلکو لپاره خپاره شوی دی هغه دملی لښکر کیو تقریری نمونې دی چه وروسته ثبت شوی دی. لکه (راشما) دشانی دملیت یوه اوږده منظومه افسانه او دچوانګ دقبیلې یو نظم چه داسلو ښو کرتی

په نامه یادیږی. زموږ داساسی پرنسیپونو څخه یو دادی چه زموږ ملی عنعنات، له کلتوری او دملی اقلیتونو له عنعنو سره یو ځای ذخیره کړو،

دچین ولس همدارنګه دنورو مملکتونو له ادبیاتو څخه خونداخلی او احترام ئې کوی. پس دمی دڅلرمی له نهضت څخه زموږ له مهمو وظیفو څخه یوه داده چه دنورو مملکتو له عنعنوی عالی ادب څخه استفاده وکړو، دشپږویا او وورو ستیو کالو په موده کښی له هندی جاپانی، او دنورو اسیایی او اروپایی ملکونو له ادبیاتو څخه ترجمې شوی دې. دنورو ډېرو آثارو ترجمې به دوام پیدا کړی.

په چین کښی (۱۲۰) ملیونه ماشومان شته، لکن دمی دڅلرمې له نهضت څخه پخواداسې لیکونکی نه وو چه خپل ځانونه خاص ددې کار لپاره وقف کړې او کتابونه ورته ولیکی. پس له هغه ځینو لیکونکو دماشومانو دپاره په لیکلو شروع وکړه؛ دمتال په ډول ییه شنګ- تاؤ او چانګ تین-یی، دواړو دوړو دپاره زیاتې کیسې ولیکلې خو بیا هم موږ تر اوسه پورې ددې ضرورت له پوره احساس څخه لری یو موږ باید چټک ګامونه واخلو چه ددې کتابونو کیفیت او کمیت دواړه پرمخ بوزو، دچین د لیکونکو داتحادیې دپرله پسې مسؤلیتونو پرغاړه اخېستل او دچین دخلکو دماشومانو دحمایې ملی کومیټی دوړو دادبیاتو دپاره په کار لاس پورې کړی دی. دچینی لیکونکو یوه برخه منظم آثار زیاتو لیکونکو ته جرأت ورکوی چه دماشومانو دپاره لیکنې وکړی؛ او ددوی دپاره اسانتیاوی برابرې کړی؛ او په ضروری شیانو کښی ورسره مرسته وکړی نه یواځې دماشومانو دپاره په معمولی ډول سره قصې خپرې شوی دی بلکه په خاص ډول سره ددوی دپاره ځینې کتابونه لکه (ادبیات دوړو لپاره) او د(ماشومانو عصر) چاپ شوی دی دماشومانو دپاره د کتابونو لیکلو په شمېر کښې، دماشومانو په دارالتالیف کې یو دیادونې وړ زیاتوالی راغلی دی. سره ددې تولو خبرو بیا هم موږ دماشومانو داړتیا ؤ دپوره کولو او اقناع له مرحلې څخه لېری یو.

په عمومی ډول، زموږ دنوی ادب معیار تر اوسه پورې زموږ دآرزو ګانو د تر سره کولو په لار کښې پرمخ ځی. که څه هم چه موږ ځینی نوی آثار لرو چه دهغوی موضوعات محدود دی او سبک ئې هم یکنواخته او یو تر بله سره ورته دی زیاتره یې په خپلی زراعتی یا صنعتې ساختمانونو پوری اړه لری. په داسی حال کښی چه زمونږ دخلکو دژوند ډېری جنبې له نظره لویدلی دی یو زیات شمېر آثار دی چه په هغو کښې دفکر عبارت او سبک اساسات قطعاً نه لیدل کېږی دادبی انتقاد په ساحه کښې مختلفو موضوعاتو او آثارو ته زیاته توجه شوې ده. خو دهغو تحلیل له فنی خواپوره نه دی شوی. ددې تولو سبب په زیاته اندازه سره په ادبي انتقاد او دلیک په اصولو کښې دد کمانیزم (جزمیت پیروی ده. ددې تولو نیمګړتیاؤ دپوره کولو دپاره

ددی کال دجون په میاشت کښې موږ دا غږ پورته کړ. « پریږدئ چه رنګارنګ ګلونه وغوړیږی نوی مختلف فکری مکتبونه یوتر بله سره سیالی وکړی.» دا مختصراً دا معنی لری چه موږ باید دادب فني وجوهو او دمختلفو لیکونکو فردی مشخصاتو ته زیاته توجه وکړو موږ باید لیکونکو ته جرأت ورکړو چه دموضوعاتو له پراخی سلسلی سره په کار پیل وکړی او دعبارتونو نوی شکلونه ایجاد کړی، او پریږدو چه هر مکتب په ادبی انتقاد کښې خپلو مقولاتو ته دوام ورکړی کله چه داغږ خپور شو، دهیرادیه هره برخه کښې لیکونکو خپل فعالیت زیات کړ، او دنویو موضوعاتو په برخه کښې یوشمېر نوی آثار منځ ته راغلل، چه په مختلفو انواعو او سبکونو لیکل شوی وو

«پریږدئ چه رنګارنګ ګلونه وغوړیږی، مختلف فکری مکتبونه یوتر بله سیالۍ سره وکړی» داغږ به هرومرو زمونږ د نوی ادب له پرمختګ سره کمک وکړی. (پای)

لیکونکی م ز

مینه ؟

مینه یا دزړه قوت دجهان سپېڅلی او حقداره مور ده په انسانی ژوند کښې پرازی او یوازی محرک او مثبت قوت مینه ده. ودا مینه هغه وخت لازړه ورونکی او زیباوی چه له بیخه پاکه وی.

پاکه او بې الایشه مینه انسان له انسان سره متلو ی دا مشلول په انسانی ژوند کښې اجتماعی ثمر زیږوی او نه یوازی په دی چه اجتماعي ژوندئ زیږ ولی دی کفایتکوی بلکه هغه وخت انسانان دی خواته راکاږی چه یو دبل په څنګ کښې داسی ژوند وکړی چه یو دبل ارامي او راحت داسی تأمین کړی چه انسان د انسان لیوه نوی بلکه انسان دانسان خواخوږی او دغم دورځی رفیق او ملګری وی.

دا رنګه پاکه او سپېڅلی وظیفه یوازی او یوازی مینی په غاړه اخیستی ده او همدا طبیعی دجهان حقداره مور (مینه) ده چه نه یوازی ژوندی شیان بلکه جمادات هم سره راتولوی او په تولو موجوداتو کښې پر یو مظلوم دظالم انتهائی او بیرحمانه تجاوز داسی عیاروی چه طبیعی او اصلی نظام وسائل شی.

یعنی هلته چه مونږ دیو موجود فناوینو په حقیقت کښې هغلته یو والی او همرنګی کمال ته رسیدلی وی او دد و اندو ه ټول ښکلی اتفاق او له لحان تیریدونه دریم دهر ښکلی او دهر پاتیدونکی موجودماپین ته راځی.

نو په داسی طبیعی پاک او سپېڅلی قوت دانسانانو زړونه کرم ساتل دطبیعت ډیره لویه ودیعه ده او دا مبارک او مقدس اوپه زړونو کی بل ساتل په اجتماعی ساحه کښې ډیر مهم رکن او دمشرانو وظیفه ده.

ښاغلي عارف ' عثمانوف

په شوروی از بکستان کښې پښتو ته توجه

محترمو اوستونکو ! ښاغلی ک . آ . لپیدیف او ښاغلی ک . ف . کیرس هغه وخت چه افغانستان ته راغلی وو په خپلو مقالو کښې چه د کابل په مجلې کښې چاپ شوی دی په مسکو او لیننګراد کښې د پښتو او د پښتو د ادب د څېړنکو الی په باره کښې لیکنې کړی دی زه اوس غواړم چه په دې لنډه مقاله کښې په شوروی از بکستان کښې د پښتو د څېړنکو الی په باره کښې خبرې وکړم .

سره له دې چه د شوروی از بکستان د لېنن نامې پوهنځی د اسیا پوهنتون د شرق پوهنځی کښې پخوا لدې چه د پښتو لپاره یوه علیحده څانګه تاسیس شی د پښتو ژبه د پارسی په څانګې کښې تدریس کېده لیکن په (۱۹۵۳ ع) کال کښې په دې پوهنځی کښې د پښتو مستقله څانګه تاسیس شوه چه په همدغه کال د پښتو او د پښتو د ادب زده کوونکو تاداو کښېښو دشو په هغه وخت کښې زموږ لمړی ښوونکی دفیلالوژی علومو کاندیلات باقه خالدوده مونږ ته د پښتو ګرامرو یلو او د افغانستان د خلکو ژور معنی لرونکی متلونه ویل او زموږ مینه ئی د پښتو او پښتو ادب سره زیاتوله خو (۱۹۵۶ ع) کال زموږ د پښتو څانګې شاګردانو په ژوند کښې نه هیرېدونکی کال وباله شو ځکه په هغه کال د مسکو نه پوځوان ښوونکی چه عبدالحفیظ عنییف نومیده پس له سپېړنتوره تحصیل څخه چه دفیلالوژی علومو کاندیلات نوم ئی واخیست بیرته تاشکند ته راغی او زموږ په پوهنځی کښې ئی د افغانستان د کلاسیک او اوسنی ادبیاتو کورس شروع کړ او موږ د افغانستان د پخوانو شاعرانو لکه خوشحال خان خټک . رحمان بابا ' عبدالحمید او داسی نورو او اوسنی شاعرانو او ادیبانو سره لکه ګل پاچاالفت ' صدیق الله رشتین ' عبدالرؤف بېنوا او داسی نورو سره ئی اشنا کړو او د دوی اثار مو ډېر خوښ شول .

څرنګه چه زموږ د پښتو څانګې شاګردانو ترمنځ د علمی موضوع ګانو کار په دریم ټولګی کښې شروع شوه او هر یوه په خپله وړ سپارلی شوی او تاکلی موضوع کښې کار کولو مثلا زما موضوع په دریم ټولګی کښې « د افغانستان اوسنی لیکوال عبدالرؤف بېنوا » او په څلورم ټولګی کښې د ګل پاچاالفت غوره اشعار .. وو .

سږ کال زما همصنفان هلته نظرالله بوتابایف « د عبدالرؤف بېنوا حکایتونو په باره او قابل صادق وف او یرین حبیبیه رحمت الله یوف د پښتو ګرامر په باره د پیاوړو نه امنو ګرافونه) لیکلی او به موفقیت سره ئی تر ی حمایه کړیده .

ما پروسبز کال دښاغلی ګل پاچا الفت غوره اشعارو په باره په سمرقند کښی دعلی شیر نوائی نومی پوهنتون دشاګردانو علمی ټولنه کښی کنفرانس ورکړو چه دشاګردانو ډیر خوښ شو ځکه وروسته له کنفرانسه دشاګردانو نداکری او سوالو نو څخه دا معلومیده چه دسمرقند شاګردان دافغانستان دخلکو له سپیسلو ادبیاتو سره ډیره مینه لری.

اوس زمونږ دپوهنتون دپښتو څانګې ددوهمی دورې اته تنه شاګردان هم په دوهم ټولکی کښې دپښتو او دپښتو دادب زده کولو کښې بخت دی.

زمونږ خلك دخپل جنوبی خواکاونډی دوست مملکت دافغانستان دخلکو ژبې ادبیاتو تاریخ او صنعت ته په درانه نظر ګوری دشرق خلکو له جملی څخه دافغانستان دخلکو دادبیاتو په باره چه هر کله هلته کوم کتاب یا اثر چاپ شی نو په هماغه میاشت دا کتابونه یا اثرونه تمامیږی دافغانستان دادبیاتو سره دازبکی اوستونکو آشنا کولو کښې دازبکستان ددولت دنشریاتو شرقي څانګه چه دده مدیر دفیلالوژی علومو کاندیدات شاه اسلام شاه محمد رؤف دی ډیر فعالیت کوی پروسبز کال دازبکستان دولت دنشریاتو له خوا دپښتو یو کتاب چه دپښتو قصې نومیږی په ازبکی ژبه ترجمه او چاپ شو چه ترجمانان ئی عبدالحفیظ عنییف او حسن علی یف وو دا کتاب داتحاد شوروی ختیز پوهانو د کنفرانس په ویاړ چه پروسبز کال په تاشکند کښی شوی ؤ چاپ شو زمونږ پوهنتون هم ددې کنفرانس په درناوی یو علمی تدقیقی کتاب چاپ کړ چه په هغه کښی دپښتو ګرامر په باره دوی مقالې لیکل شوې وې لمړی مقاله دباقه خالد له خوا دپښتو ژبی فونیټك زغپوه په باره او دوهمه مقاله عبدالحفیظ عنییف له طرفه دپښتو ژبی دافعالو په باره کښی لیکل شوی ده.

سبز کال دا کتوبر په میاشت زمونږ په هیواد کښی نه هیرېدونکې واقعه کیږی چه په ښکلې تاشکند کښی ددوو لویو براعظمو (آسیا او افریقا) دممالکو لیکوال دخپل دوهم کنفرانس لپاره سره یو ځای کیږی او ددې کنفرانس په درناوی دپښتو دوه کتابونه چه یوئی دپښتو اشعار او بل ئی دپښتو حکایتونه نومیږی په ازبکی ژبه ترجمه او چاپ شوی بر دلته مناسب دی چه وویل شی دادوهم کتاب لمړی واردی چه دپښتو نه په واسطه دعبدالحفیظ عنییف له خوا ازبکی ته ترجمه کیږی.

اوس تاشکند په اتحاد شوروی کښی دمسکو او لیننګراد نه وروسته دافغان شناسۍ دریم مرکز دی سبز کال په تاشکند کښې دازبکی او روسی نه دشرقی ژبو له جملی څخه پښتو ته دترجمه کولو مسئله ترغورلاندی نیوله کیږی. لدینه وروسته دافغانستان ګران لوستونکی دشوروی ازبکستان دادی حیات سره اشنا کیدلای شی.

مونږ تل په شوروی ازبکستان کښی دافغان شناسۍ ددې وړوکی مرکز دیر اختیا اولویوالی لپاره کوښښ کوو په احترام عارف عثمانوف کابل.

دښاغلی عارف عثمانوف لنډه پېژندنه

زه تاسی سره دخپل پېژند ګلوی دمخه دهندو کش لوړغره د هغې خوا لوی مملکت (اتحاد شوروی) دشاګردانو او خلقو له خوا دزړه له کومی سلامونه وایم.



ښاغلی عارف عثمانوف د اتحاد شوروی د ازبکستان دجمهوریت هغه ښاغلی چه دپښتو دزده کړی په غرض دکابل پوهنتون له خوا دسکالرشپ په ډول کابل ته راغلی او اوس دنورو پښتنی زده کوونکو سره بوځای داب دپوهنځی په پښتو څانګی کښی درس وائی.

پس لدی د لینن نومی د منځنۍ آسیا نه پوهنتون دښوونکو او شاګردانو له خوا زمونږ ګران استاد مرحوم پاینده محمد زهیر. چه پروسږ کال تاشکند ته راغلی او مونږ ته ئی دپښتو ژبی او ددې ادب سبق را کاوه سپېڅلې روح دپاره بښنه غواړم. زه په ۱۹۳٤ ع کالی کښی دشوروی ازبکستان دتاشکند ولایت دینکی یول په ښار کښی زیږیدلی وم ما په ۱۹۵۳ ع کښی می دینکی یولی شونی مکتب تمام کړاو پدی کال دتاشکند دلیننی نومی دمنځنۍ آسیا پوهنتون دخاتیز فاکولته دپښتو په څانګې کښې شامل شوم. دلته عبدالحفیظ عنییف چه زمونږ دپښتو ژبی او د پښتو ادب ښوونکی و ځمونږ تعلیم دپاره زیاته توجه وکړه له هغه وخت چه مونږ څلورم ټولګی ته ورسیدو د اتحاد شوروی دعالي تعلیم وزارت په بلنی ستاسی وطن دار مرحوم پاینده محمد «زهیر» تاشکند ته راغی او مونږ ته ئی دری میاشتی پښتو او دپښتو ادب سبق را کړو. مونږ ددی عالیجناب کارونه یعنی چه مونږ ته ئی دزړه له اخلاص سبق را کړی هیڅ کله نه هیروو. زه په ۱۹۵۷ ع کال کښی چه په پنځم ټولګی کښی وم د اتحاد شوروی دعالی تعلیم وزارت له خوا دیو کال لپاره دسکالرشپ په حیث افغانستان ته واستولی شوم. او اوس د کابل پوهنتون داد بیا تو پوهنځی دپښتو په څانګې کښی پښتو او دپښتو ادب په زده کولو بوخت یم.

زه چه فاکولتی ته ورسیدم دپوهنځی شاګردانو ما ته ښه هر کلی وکړو دوی ما ته دپښتو ډیر کتابونه، مجلی، او اخبارونه را کړل او دوی هره ګړۍ او هره شپه ما سره خورا ډیر کومك کوی زه هیله کوم چه ددوی په کومك سره به دپښتو ژبه او د پښتو ادب ښه او پوره زده کړم.

دښاغلی میر اکبر ترجمه

له اتلانتیك څخه

تدریجی نشو او ارتقا او آنی تغیرات

کوم وخت چه چارلس داروین په بیګل نومی بیړۍ کښی دنړۍ چارچاپیره دوره شروع کړله وله خپلو معاصرینو سره ئی په دغی مسلمی عقیدی کښی برخه واخیستله چه وائی دحیواناتو او نباتاتو هره نوعه چه په زمکه باندی هستو ګنه لری دخلقت په عملیه کښی ئی منشه بیله ده یعنی هره نوعه چه نن موږ په ستر ګو وینو یا پخوا موجوده وه ولی نن ئی خپله نوعه له لاسه ور کړی او دزمکې له مخه بیخی ور که شویده په پیدائښت کښی له جلا او بیلی منشی څخنی ده. چارلس داروین دا نظریه هم له ټولو طبیعی علماؤ نه په ښه شان ښکاره او وڅېړله چه وائی چه ژوند په هر شکل چه وی په طبیعت کښی موافق له هغه ځایه سره چه دغه ژوندی ځای په کښی نیو ئی دی جوړ شوی ده او دوجود دجوړ ښت او سلوك له مخی هر ژوندی ځانی له خپل محیط سره توافق او جوړښت کوی.

کوم وخت چه داروین خپل پنځه کلن سفر پای ته ورساوه نو ددغه ځوان نچرالیست په مغزو کښی یوه بله عقیده راپیدا شوه چه هغه عقیده عبارت وه له «تدریجی نشوی او ارتقا» او «دانو اعود منشی» څه نه څه یوه پیړۍ پس له هغه چه داروین خپل نومیالی اثر په نامه «دانو اعو منشه» خپور کړ د نشوی او ارتقا عقیده له هغی مودی راپدی خوا دژوند دحقیقت په حیث منل شوی ده.

دداروین دی عقیدی استعداد اولوړوالی په دی حقیقت کښی دی چه هغه په خپله تیوری کښی دوه ساده بیولوژیکی حقایق چه په ظاهره سره بیل او بی ربطه ښکاری یو له بل سره وتړل هغه دوه ساده او په ظاهره کښی سره جلا بیولوژیکی حقایق دادی:

لمړی دا چه وائی دیوې نوعی دغړیو په منځ کښی په ښکاره ډول سره یو والی او شباهت نشته او دغه نه یو والی او بی شباهتی دد وی په منځ کښی میراثی شکل لری هغه دویم بیولوژیکی حقیقت چه چندانی بدهت ندی دا دی چه وائی دنفوسولایتناهی ډیروالی دغذائی موادو او دژوندانه د ځینی داسی نورو تحدیدونکو شرائطو له خوا کنترولیږی.

دپورتنیو حقایقو په زنها کښی داروین داسی استدلال کاوه چه دپورتنیو خبرونیغه نیتجه دا کیږی چه دیوه فرد هر هغه میراثی مختص وصف او ممیزه نښه چه دهغه دبقا او ژوند لپاره کار ور کوی دیوه «طبیعی انتخاب» محصول دی چه نسل په نسل پسی ډیرو نفوسو ته نقلیږی. په همدی صورت سره دسازش کوونکو تنوعاتو دورو ورو او تدریجی یو ځای کید و په ذریعه هغه انواع چه اوس موجودیت لری له پخوانیو لمړ نیونیکه کانو

ځنی د تدریجی نشو ارتقا
عملیی له لاری کښته راغلی دی
او ترقی ئی کړی ده او دد وی
دغه مغلق میکانزم د کوم شعوری
او بامقصده پلان نتیجه نه بلکه
دطبیعی قوانینو دغیر محسوسه
عملیاتو محصول ګڼل کېږی.
دتدریجی نشواوارتقاداعلان
پسی چه په علمی تفکر کښی کوم
انقلابات راغلل دتوارث او تنوع
حادثی یو ځل دبیولوژی له ډیرو
غوروا ومهمو فصولو ځنی و ګڼل
شولی او په لمړیو برخو کښی ئی
ځای و نیو. تقریباً د اخبره
تراوسه پوری ښه نده ښکاره شوی
چه میراثی اختلافات په څه ډول
سره صورت مومی او دد غو
اختلافاتو دانتقال میکانزم څه
شی دی. مګر داروین د داسی
وخت پیش بینی و کړه چه هلته
به دتنوع علت او دتوارث قوانین
کشف شی حتی په هغه وخت کښی
چه داروین له راتلونکی زمانی نه
دتوارث در موزو دحل کولو
هیله کوله په هماغه وخت کښی
ګر یګور منډل د تکون د علم
بنسټ ډبره کښېښو دله دتکون

علم دهغو طبیعی علومو دهری
څانګی دحقایقو او نظریاتو له
سنیز سره ډیره مرسته و کړه
چه بنیادئی په ډارونیزم باندی
ایښول شوی دی. هر څومره چه
دتدریجی نشواوارتقاء پیچلی
او څواړ خیزه میکانزم دادراک
اوفهم ترقبضی لاندی راځی دا
خبره تر ډیری اندازی پوری
حقیقت مومی چه وائی: کوم
هغه او مه موادچه دغه میکانزم
پری و دان دی عبارت دی
دجینو له تیغراتو ځنی.
داسی ویل کېږی چه دانسان
او حیوان توارثی ور کړ شوی
ممیزات دیوی مخصوصی شانته
مادې له خوا تعنیږی چه دغه
ماده په خپل لمړنی شکل کښی
دتارپه شان کروموزومو کښی
موجوده ده او تر زره بین لاندی
دحجری په هستی (زنی) کښی
لیدل کیدای سی. هغه نه لیده
کیدونکی عناصر چه دغه ماده
ور ځنی جوړه شویده عبارت له
جینو ځنی ده چه دغه جینونه
دکر و موزوم په شانی حبابو
په شااوخوا کښی او دل شوی دی

مګر ځنی او سنی عقیدی او نوی
شواهد چه لاس ته راغلی دی
دامفکوره ئی تر ډیری زیاتی
اندازی پوری بدله کړی ده.
دتکون ډیر پوهان په دی عقیده
دی چه جینونه د کیمیاوی
ساختمان له مخی له کر وموزو
مونه بیل او بیلی منطقی لری
چه دهغوی مناطق یو له بل ځنی
دمعینو سرحدی ویشونو په مرسته
جلا کېږی. او دد واړو دجوړښت
نمونی بیلی دی. چه دغه جلا
ساختمانی نمونی دحجری په
میتابو لزم (تعمیر) کښی ډیر
لوی مخصوص رول لوبوی دهر
وجود هره حجره یوه مجموعه
دجینونو او یوه مجموعه دکر
وموزومونو لری. چه دغه مجموعه
دیوی مستقیمی لیکی په مرسته
په بیل صورت سره له هغی
مجموعی نه را کښته شوی ده چه
لری ځل لپاره دالفاح دعمل
په وخت کښی دتخم په حجره کښی
دننه تاسیسېږی. دهری نوعی
جینونه په هماغه شکل انکشاف
مومی یعنی دانسان جینونه په
ځای د دی چه دخپل او یا کوم

بل دغسی عظیم الجثه څاروی
په صورت انکشاف ومومی په خپله
دانسان په شکل انکشاف کوی.
ددی دلیل خودادی چه هغه ماده
چه دانسان په کر وموار ومو
کښی نقلیږی او هغه ښکلی او
مخصوص ساختمان چه د ده
جینو نه لری د عمل او عکس
العمل داشان یو معجزه آسا او
منظم ترادف او توالی منځ ته
راولی چه ترنورمالو او عادی
شرائیطو لاندی به خامخا
دانسان جینونه د انسان په
شکل دحیوان یا بوټی جینونه
دهغی مخصوصې نوعې په شکل
انکشاف کوی او لوئیږی به.
دفرد دژوندانه له سرترپایه
پورې جینونه خپل کنترول
دوجود په حجره او دنسجونو
په هغه پیچلې کیمیا باندی قائم
ساتی. څرنګه چه په یوه په عمر
پاخه سړی کښی زاړه ښځو نه
په نوی ښځ بدلیږی. چه دخوراك
له لیارې دغه دنوی کیدو عملیه
دوام پیدا کوی. هغه خواړه چه
یو سړی ئی مصرفوی په یو خصوصی
ډول سره د ین فرد ښځ تشکیلوی
که عین هماغه یو سپی وخوری

بیا به هغه خواړه په دی وخت کښی
د سپی د وجود نسجونه
تشکیلوی.
تر اوسه پوری ددی حقیقت
ادراك لانه دی شوی چه جینونه
د ژوندیو سیستمونو دغه څو
اړخیزه فعالیتونو ته څرنګه
لارښونه کوی خو په دی خبره
باندی ښه پوهیږو چه د هری
حجری یا عضویت ممکنه
حساسیتونه چه د شرایطو په
مقابل کښی ئی متقابلاً ښکاره
کوی تر ډیری اندازی پوری
دجینونو په مرسته تعینیږی.
زمونږ دنوعی غړی په عمومی
ډول سره اساساً د جینونو عین
شکل لری. چه دهغه په واسطه
موږ دژوندله نورو اشکالو
ځنی بیلیږو. که څه هم زموږ
د نوعی دافرادو ترمنځ دجینو
د تشکل یو الی شته او ټول
انسانان په خپله نوعه کښی
د جینو عین تشکل لری خو بیا
هم په استثنا دهغو چه غیر گونی
پیدا دی داسی هیڅ دوه کسه
به پیدا نشی چه عین توارثی
شکل ولری یعنی دوه نفر په یوه
قواره نه شو موندلی نولدی

کبله ویلی شو چه هر شخص
د جینونو بیلی نمونی لری
دتوارث معروفی نښی عبارت دی
د پوست ستر گو او ویښتانو
د رنګ ځنی قد او دمخ خطونه
هم عبارت له توارثی نښو ځنی
دی چه ددغو پورتنیو نښو په
واسطه د افرادو یوه ډله له بلی
ځنی بیلیږی دغه او داسی نور
توارثی تنوعات چه د گوتوله
چا په نیولی د وینی ترتیبونو
پوری واړه د هغه اختلاف
مظاهر دی چه د جین د مادې
په ساختمان او ترتیب کښې
موجود دی. ویل کیږی چه
ځنی وراثتی تنوعات لکه
دستر گو رنګ د یوه منفرده جین
دوضعی په اختلاف پوری اړه
لری. خو دپورته جملی معنی
دانده چه گواکی یو جین
دشنو او یا بادامی ستر گو
درنګ دتغییر عامل دی. بلکه
معنی ئی داده چه یو تغییر په
دغه خصوصی جین کښی کولای شی
چه د جین د سیستم په عمومی
منظمو فعالیتونو کښی داسی
تغییرات راولی چه په پای
کښی بیل بیل رنګونه مینځ

ته راولی . ځنی نور میمزات
لکه دقدلور و الی نسبتاً دیو
شمیر زیاتو جینو په حالاتو او
وضعیتونو پوری اړه لری .
جینونه په خلاء کښی وجود
نری . دوی تل په داسی محیط
کښی موجودیږی چه د جینو
دطرز فعالیت دپوهیدلو لپاره
باید ډیر اهمیت ورکړ شی '
او په نظر کښی و نیول شی .
دحجری او د عضویت دننني او
دباندنی محیط چه اوس ئی مخ
کښی له مخ کښی په کیفیت
اوخرنګوالی څه نشو ویلای
دجینو له فعالیت سره نژدی اړه
لری چه دتوارث په اخیرنی
حالت باندی مختلفی او بیلی
اغیزی کوی . یوه میمزه یا
خاصه نښه ذاتاً په خپله په
میراث نه ورله کیږی هغه څه
دجینو په واسطه تعیینیږی عبارت
له یوه خاص استعداد ځنی ده
چه تر معینو شرائطو لاندی
معین آثار په وجو دراوری .
مګر دستر کو درنګ په باری
کښی به دا امتیاز بی اهمیته
معلومیږی ځکه چه کوم نفر

چه دستر کو د جینو ساختمان
ئی دشنو ستر کولپاره وي هغه
به دهرډ ول محیطی شرائطو
لاندی شنی ستر کی لری ددی
جملی معنی به هله ښه بدیهی
شی چه موږ ځنی داسی میراثي
ممیزات ترکتنی لاندی ونیسو
چه هغه دمحیطی تغییر اتو په
مقابل کښی مستقیم او ډیر
حساسیت ولری مثلاً ددی
خبری لپاره د هماليه دغره
سویان ښی نمونی کیدای شی
دا سویان چه سپین پت او دغوږو
لګی او خپرو په برخه کښی
تورو ویښتان لری چه له یوه نسل نه
بل نسل ته په میراث رسیدلی دی
که چیری دد غه سویانو له
شانه یوه اندازه ویښتان وخر بل شي
او د غه سوی نه په یوه
ساره ځای کښی ځای ورکړ شی
تو پد غه وخت کښی موږ کورو
چه دسوی په شا به دیخوانی
سپین پت په ځای تور پت
رایورته شی دغه شان موږ وینو
چه دلته یخوانی سپین پت په
میراث یو نور شو بلکه دلته هغه

دتورو رنګونو دیوجود راوړلو
استعداد په نیټو سخونتو کښی
مدنظر نیول کیږی . څرنګه
چه دسخونت درجه دوجود په
وتلیو ځایو کښی په نورمال
ډول سره نظر نورو برخو ته
نیټ وی نو له همدی کبله
دهمالیا دغرو سویان دوجودیه
وتلیو ځایو کښی لکه غوږونه
خپرې اولګی تو رنګ لری او په
تورو برخو کښی سپین همدا شان
سره همدی چه دقدانداز
اساساً دجینونو تر کنترول
لاندی ده خوله بلی خوا غذائي
عوامل او مؤثرات ډیره اغیزه
پری کوي .
جینونه نه یوازی دمتابولزم
دپیچلی عملي او انکشاف لپاره
دغوروړ دی بلکه ځنی نور بی
ساری خواص هم لری چه په
بیولوژی کښی ئی دوی ته
خاص اهمیت ورښلی دی '
جینونه نه تنها دتدریجی
نشوی او ارتقا لپاره اومه
مواد بلل کیږی بلکه په خپله
دژوند اومه مواد هم دی .

لەهندی منابو څخه

دښاغلی جالەوان تولو نه اولیکنه

زمونږ په ژوند کښی د کیسو اهمیت

څرنګ چه هرچاته معلومه دەزمونږ په خاوره کښی، دزمانو او پیړو راهسی دارواج او دستور راروان دی. چه زمونږ د کلو والو سیمو خلك دورځی، دخپل کاروبار او دندو څخه دوز کاریدو نه وروسته، په یو او بل ځای کښی راغونډشی. چه دیوه مشر دخولې، دخپلو مذهبی کتابونو یا خپلو ملی روایاتو، کسې او داستانو نه واوری په دی ترڅ کښې خو کله کله داسی هم شویدې چه دپخوانو کسو، یوغټ کتاب چاخپلو آوریدو نکوته، شروع کړی دی او بیا تر څوورځو، ددی کسو، آوریدلو دوام لرلی دی البته دلته به دا خبر غالباً چه بی ځایه نه وی. چه د کلو او باندو دخلکو په وړاندې داډول پخوانۍ او روایتی کسی. د «الیاد» او «اوډیسی» غوندی دخیالی او سطحی او یا هنګامه خیز و واقعاتو کسی نه وی. بلکه دا به، داساسی حقائقو او روحانی صفتونو څخه ډکی کسی وی. که یو وخت به دا کسی دعبتر تنا کو پیښو څخه ډکی وی نو بل وخت به، په دی کښی دا بحث شوی وی، چه دظلم ګاسه څرنګ په آخر کښی نسکو ریږی. دپخوانو کسو او داستانونو، ددی تاریخي اوروایتی دستور اورواج. نتیجه داشوه، او اوس هم، ده چه د کلی او باندو خلك که څه هم بی تعلیمه، امیان او بیسواده دی. او دښاریو خلك، که څه هم، دوی «جاهلان» او «ناپوهه» ګڼی مګر حقیقت خو دادې. چه د کلو او باندو خلك په اصل کښی مهذب خلك دی. او کله کله په دوی کښی، دداسی ژور. پوښ او کوټلی شوی، عقل. دانش او هوښیار تیا خاوندان خلك راپیداشی. چه دسړی عقل ورته وخوځي. دپخوا په شان نن هم زمونږ په کلی والو سیمو کښی مشران دسوونو کلونو خپلی پخوانۍ مذهبی، اخلاقی، روایتی اوروحانی کسی خلکو ته آوروی. او دیوه کاله مشر. سړی یا بودی ښځه، په ډیر ساده خوندورو لفظونو کښی خپل کوچنیان او ماشومان، ددی کسو په معنی او مطلب پوهوی.

په دی ترڅ کښی چه څه وخت ماته دا وویل شو چه نن سبا زمونږ په کلی والو سیمو کښی دپخوا په شان د کسو ویلو درواج او دستور دومره خوند نشته نو یقیناً چه دی خبری زه. ډیرو دردولم دا ځکه چه زما دا یقین دی. چه د کاله ماشومانو او وړو ته، دخپلو تاریخی مذهبی اخلاقی اوروحانی کسو بیانول، ډیره عقلمندی او هوښیار توب دی. او زه به په دی وجه ښه په ټینګه ووایم، چه باید د مملکت په کلی والو علاقو کښی، د کسو دا پخوانی رواج او دستور. دی دنوی سره، راژوندی کړې به شی.

دا صحیح ده چه زه ددی خبری

پوره پوره احساس کوم چه زمونږ په
ټولنه او سوسایټی کتیبې دغلط
دلیل خاوندان داسی خلق هم
شته، او خصوصاً هغه خلك چاچه
د ساینس او نوی عصر د علم
زده کړه او تربیه حاصله کړی
ده - او چاچه دلویدیځو مملکتو
کتابونه لوستلی دی هغوی
زمونږ په پخوانو کسو
داستانونو او روایتی خبرو پوری
خندا کوی - ټوکی او مسخری
ورپوری کوی په کاږه او سپك
نظرورته گوری - او په دوی کښی
ځینی خلك دی خبری ته هم
چمتو او آماده نه دی - چه
د دوی ماشومان دی پخوانی
روایتی تاریخی اخلاقی روحانی
او دی سره سره د پیریانو او
دیوانو ښاپیرو او شهزادگانو
کسی او داستانونه واوری
دوی وائی - چه دا ډول کسی
دروغ او بی بلنسټه دی، او
دحقیقت سره کومه اړه نه لری
- مگر دلته داخبره دیادلرلو
وړده، چه ماشومان او دپخوانو
ټولنو نمایندگان خلك چه
په موجوده اصطلاح کښې ورته

«غیر مهذب» ویلی شی، دوی
یقیناً چه پخوانۍ اوزړی کسی
ډیری خوښوی مگر دی سره
سره داخبره هم مونږ هیر ولی
نه شو چه په لویو لویو ښارونو
او ښارویو کښی او سیدونکی دنوی
او عصری تهذیب د تمدن
نمایندگان خلك هم ناولونه
افسانې، تاریخونه دنړۍ د لوړو
شخصیتونو دژوند د استانونه،
دجاسوسی کسی د تحقیقاتو او
پلټنو، کتابونه او مجلی لولی
دوی سینما گانو او تیاترو ته
ځی، دلوبو مثلاً فټ بال، ها کۍ
والی بال پهلوانۍ، ټیبل ټنس
وغیره ننداری او تماشی کوی
او ډیر زیات فکاهیاتو او خرافاتو
ته یی غوږونه ایښودی وی
مطلب دا چه د نن زمانی
د ښارونو او ښاریو خلك ددی
خبری شوقمن دی، چه د عملی
او خیالی دواړو قسمو فعالیتونو
متعلق یا خو پخپلو سترگو څه
ووینی - او یا څه ولولی نور
خو نور څو زمونږ ډرامی، کومی
چه زمونږ د تحت الشعور پیداوار
دی - دا د کسو په شکل او

جامه کښی مونږ وینو هم دغه
رنگ زمونږ دخیالی سنجشونو
او په رڼا ورځ دلیدونکو خوبونو
حال دی - په کومو خیالی
داستانونو کښی چه مونږ، خپل
ځانو ته دیوی کسی او داستان
شاه ځلمی گڼو د دی دپاره
مناسب او معقول دلیلونه موجود
دی او هغه داچه د کسو معنی او
مقصد دادی - چه ژوندی حقایق
دی رڼا ته راوښکی شی - او
هم دا وجه ده، چه کسی، دیوی
پیښی او واقعی د نش وضاحت
او تشریح په ځای، ډیر غنی
ژور، قوی او دائمی نوعیت
لری - کسی زمونږ په تصوراتو
کښی یو طوفان او تلاطم راولی
او دښائست او ښکلا څخه دډکو
نازکو او رنگینو گلانو
و گمو زمونږ، په
خیالاتو او تصوراتو کښ راپیدا
کړی - اوس که تاسو غواړیء
چه خلك یو مقصد او مرام غاړی ته،
راغب کړیء، نو دهغوی
سره، دلیل بازی مه کویء -
بلکه هغوی ته داسی. خوندوری
د کشش جاذبیت، او دلکشۍ

څخه ډکی، کسی واوروی ء -
په کومو کسو کښی چه، ستاسو
د مرام او هدف، نما ینده گی،
نقاشی اووضا حت شوی وی-او
کومی کسی چه ستاسو هغه پیغام
دخلکوزړونو ته ورسوی د کوم
پیغام دمرام سره چه تا سو نور
خلك موافق اورضا کول غواړی ء
نور خو نور، چه دنړۍ پیغمبرانو،
مثلاً عیسی علیه السلام، حضرت
محمد رسول الله صلی الله علیه
و سلم، اولوړو شخصیتونو مثلاً
راما کرشن او ابراهام لنکن،
هم، په دی ډول، اصولو، عمل
کړی دی-او بشریت ته یی د ترغیب
دپاره دلار ښودنی، یوسودمند
او گټور مثال. وروستو، پریښودی
دی.

اوس که چیری مونږ دخپل
ماشوموالی، خویونو. خصلتونو
اوعادتونو ته، په تو کومسخرو
او یا په سپك او کاږه نظرو گورو
نو دا به مونږ، یوه ډیره لویه
غلطی کوو داداسی بیوقوفی او
حماقت دی لکه چه مونږ ووایو
چه دیوی ماڼۍ او آبادۍ ردی
او بنسټ، کوم اهمیت نه لری او
یا مونږ داووایو، چه دیو مکان
او دیوال دپاره، بنیادونه اوردی
کوم ضرورت نه لری دلته داخبره
د ستاینی وړده چه کومه خبره
مونږ نن سبا په ډیر فخر او ویاړ
دتهذیب او تمدن، په نوم یادوو
دادعلم او پوهی. یو انبار او ذخیره
خوده مگر عقل او دانش ورته
مونږ ویلی نه شو مثلاً دچاپولو
او طباعت فن، داخبره ممکنه
کړه چه دهغی علم او پوهی، ذخیری
او انبارونه، جوړ کړی کوم چه
زمونږ په ښاری ژوند کښی.
یوه مهمه او لویه برخه لری او
دعلم کوم مختلف قسم خبری
چه مونږ دتهذیب او تمدن په
نوم یادوو مگر مونږ په دی ترڅ
کښ داحقیقت هم هیرولی نه شو
چه دعقل او دانش څخه غیر،
دتهذیب و تمدن ماڼۍ، جړ کیږی
په دی قوت او استقامت نه وی
او نن سبا چه د تهذیب او تمدن
په ماڼۍ کښی په کوم رفتار
ضعف او کمزوری راروانه ده
داسی ضعف او ل چیری هم په
دی ډگر کښی لیدل شوی نه وو
چنانچه دپخوانو کسو بیانول
هغه یوا ځینۍ لارده د کومی په
اساس چه مونږ دعقل او دانش
په وده او ترقۍ کښی، ډیره
مرسته او کومك کولای او
دعقل سویه، لوړولی شو په دی
هکله یو لوړ هندی عالم انند کې
کومر اسوامی وائی: «چه
پخوانۍ کسی، دآرټ په شان
دانسان او بشر دژور بصیرت.
روایتی گاډی دی» اوس که
چیری داخبره رښتیا وی اوزما
پوخ یقین دی - چه د دی په
صداقت کښ، کوم شك نشته،
نو بیا باید چه مونږ دخپلو
پخوانو کسو. بیش قیمته خزانی
محفوظې او امانتې وساتو-او
دا دخپل ملت د ټولو لویو
او کوچنیانو غوږونو ته، ورورسو
په دی ترڅ کښی یو لوی فیلسوف
اې- این- وائیسټ هیډ» ویلی
دی چه» د خیالی او تصوری، پیش
قیاسۍ نه غیر، هیڅ تهذیب او
تمدن په وجود کښی راتللی نه شی»
چنانچه، دټولو مذهبونو، چوهر،
ددوې، خیالی او تصوری، قیاسونه
یا وجدانونه دی-او دټولو مذهبونو
پخوانۍ کسی او داستانونه، ددی
قسم، خیالی، حقیقتونو څخه

ډکی دی- کوم چه د کسو په شکل کښی بیان شوی دی- او کوم حقائق چه یا دلرل. کومه گرانه خبره نه ده.

اوس که چیری دا تولی خبری رشتیاوی- نو بیا پخوانۍ کسی او ددی کسوه بیا نول، دیو تهذیب او تمدن، دبقا، او دائمی ژوند، دپاره ډیر اهمیت لری مثلاً که مونږ ددی خبری آرزومند یو- چه یو کلچر یا تهذیب او تمدن دی ژوندی پاتې شی- نو باید چه بیا ددی غټی او مهمی قیاسي او خیالي خبر دی پر له پسی په باقاعده او منظم ډول دیو نسل او پښت څخه بل نسل او پښت ته حواله او وروسپارلی شی- چه په دی ډول هر یو راتلونکی پښت او نسل د خپل پیشرو او مخکښنی نسل او پښت په نقش قدم ټینگ روان وی- او دخپلو مشرانو روایات خوی خصلت- اخلاق کړه وړه اماتی او محفوظ وساتی- ددی قسم میراثی شیانو د نوی کول او پښت په ذهن کښی د کښېنولو د پاره د کوچنیانو دعمر اولنې اوه کاله ډیر موزون او مناسب وخت دی- او دا تا کلی وخت غالباً چه مونږ دماشومانو دعمر لومړو او لنو دولسو کالو پوری هم عځولی شو- د اځکه چه ماشومان او کوچنیان دخپل عمر په دغه ورځو کښ. کوم خیالات او نظر پې، دخپل ذهن او دماغ په خزانه کښ راغونډ کړی نو هغه بیا دده در اتلو نکو ژوند او کرکټر یوه برخه او جزء شی

اوس که چیری مونږ غواړو چه زمونږ ماشومان دی د خپل ډوو کتوب داوو یا دولسو کالو دعمر پوری، دخپلو ملی تاریخی، اجتماعی مذهبی او روحانی. روایاتو کسی، واوری او دا دی دخپل ذهن په زیرخانو کښی امانت او محفوظ وساتی نو باید چه دوی دا کسی په ډیر شوق او مینه واوری او بل پلو دی دا کسی د کسو په شکل کښی په ډیره ساده خونده وره دلچسپه او عبرتناکه ژبه کښی ماشومانو ته واور ولی شی په اول سر کښ به غالباً چه د کسی، د اخلاقی یا روحانی اړخ څه قدری برخه دماشوم په ذهن کښی. کښینی مگر څرنگ چه کسه وروپه ورو دخپل آخری پړاؤ په لار مخ په وړاندی روانه وی نو دغه رنگ به ددی ژوره او گټوره معنی او مطلب وروپه ورو، را څرگندېږی و ماشوم ته به پخپله بیا ددی خبری احساس وشی چه ددی کسی اصلی مرام او هدف څه دی

زمونږ پخوانۍ کسی به څرنگه چه زمونږ دژورو او عمیقو سنجشونو تصوراتو او خیالاتو او روحانی حقیقتونو قیمتی خزانی دی نو کوم خلك چه ددی خبری آرزومند او لیواله دی چه ددوی کلچر تهذیب او تمدن قومي او ملی روایات دی، تل تر تله ژوندی او امانتی پاتی شی. نو باید چه هغوی دخپلو روایتی پخوانو او تاریخی کسو احترام او قدر دانی وکړی او دا کسی په داسی ډول خپلو ماشومانو ته واور وی

چه دا دهغوی، په زړ ورو کښې
امانت پاتې شي ښکاره ده چه
دا به دهرچا دپارهٔ دخوشحالۍ
او نیکمرغۍ یو کار وي مګر
دي سره سره مو راو پلار ته په دي
خبره هم خوشحالي او ډاډ ګیر نه
محسوسول په کار دي چه خپلو
ماشو ما نو ته دخپل تار یخي
عظمت او جاه و جلال دخپلو
مشرانو دمیړانې توري نارینتوب
سخاوت عزت نفس او انسانیت
دوستي کسي کول دحب الوطنۍ
او هیو ادنی مینې یو ډیر لوی
خدمت هم دي دا کار میندي
پلرونه نیکونه او نیاوې او دغه
ونګ استاذان او معلمان ډیر
په سودمند ډول کولائي شي
دغه رنګ که چیري په کلو
او باندو کښې دمشرانو داډاډ ګیر نه
و شي چه هغوی دي
خپلو کشرانو او ماشوما نو ته
دخپلو سپیڅلو روا یاتو کسي
کول خپله یوه مقدسه وظیفه
و ګڼي نو دا به زمونږ دملي روایاتو
د محفوظ ساتلو په ډګر کښې
یو ډیر لوړ خدمت وي.

(پائي)

نشراتي موسسوته

کله کله داخبار یا مجلې
چلونکي مجبوریږي چه له نورو
ځیرونو څخه ځان خبر کړي،
او که مقالې او خپرونې تولې
لوستلي نه شي نو لږ تر لږه خو
سر لیکونه یې و ګوري او یو عمومي
نظر پري واچوي دا کار البته
دوظیفې په تقاضای او که نه زمونږ
اوسنۍ خپرونې خود ومره په
زړه پوري ته دي او نه داسي مطالعه
پکښې پیدا کیږي چه د لوستوونکو
مغرو ته پري روښانه او اخواوي
یې پري یخي شي او یا داسي مقالې
پکښې پیدا شي چه لوستل یې
لوستوونکي ته یوه جذبه او شوق
پیدا کړي او یا یې لږ تر لږه
و تخنوي او خسیات یې ورویښ کړي
سړي کله کله دمجبوریت دپاره
هم کارونه کوي زه هم اوس ځان
مجبور غوندي و ینم چه پسته
خلاصه کړم را استول شوي ورځپاڼې
او مجلې ولولم او یا یې و ګورم
دمجلو اوو ځپاڼو په څرنګوالي
او خصوصیاتو خو زه نه غواړم چه
اوس څه ولیکم خو غواړم دهغو
لیکنو او خپرونو به یاب چه لدي
مجلې سره څه غوندي ارتباط لري
یوه یادونه غرندي و کړم زه و ینم

چه ددي مجلې زیاتره مضامین
په نورو مجلو او ورځپاڼو کښې
اخیستل کیږي او د بیا دپاره
خصوصاً داطراف په ورځپاڼو
کښې خپریږي دا کار البته ښه
دي ښه مطالب او ښه افکار چه
هرچیرنه وي باید عمومي شي او
نشراتي موسسې په خاص ډول
باید دي کار ته ځیر شي کابل
مجله هم کله کله هغه غوره مضامین
چه دفکر او لیکنې په لحاظ ډیر
اوچت وي را اخلي او په خپله
صفحو کښې ورته ځای ور کوي
خو دومره ده چه ماخذ او لیکونکي
یې په روښانه ډول ښي مګر
نیپو هیږم ولي نوري خپرونکي
موسسې داسي نه کوي دوي له دي
مجلې څخه مقالې اقتباسوي خو
ماخذ یې هیڅ ته ورښي دا کار له
مطبوعاتي مقرراتو څخه یو ښکاره
تیري او زما په خیال چه دا خلاقو
په لحاظ هم یو ناوړه کار دي دا
پورته کرښي اوس دیادونې په
غرض و کښل شوي چه هغه نشراتي
موسسې چه غواړي ددي مجلې
مقالې اقتباس کړي باید لدي
وروسته دماخذ له نیوولو څخه
هم ډډه او شرم ونه کړي.

(د۲۴مخ پاته)

ساینس او فلسفه

د(کوانتم) دفزیك دعلیت له قانون سره مخالفت وکړ پیداشو دساینس د پوهانو لپاره دعلیت قانون دطبیعی حوادثو یو تسلسلی منظم ځنځیردی، چه په دی صورت که یو ساینس پوه دیوی حادثی په اوسنی حالت باندی پوه وی د «علیت» قانون سره سم کولای شی چه دهمغی حادثی په راتلونکی حالاتو باندی هم پوه شی دینوټن کلاسیکی میکانیك ددغه قدیمی «علیت» یوروښان او مکمل تصویردی دنیوټن په عقیدی کائنات له کتلوی نقطو څخه جوړ شوی دی او هره یوه کتله ځانله محدود موقعیت او مومنتم [دآنی حرکت قوت] اری په هغه وخت کښی داسی فکر کیده چه د کائناتو داوسنی موقعیت او مومنتم په پوهیدلو سره مونږ کولی شو چه دراتلونکو حالاتو استنتاج ته ورسیږو او پدی ترتیب سره د کائناتو دآینده پیش ګوئی وکړو د کوانتم نوی میکانیك وښودله چه داتم په مینځ کښی دذراتو دیوه معین حالت تثبیتول په صحیح ډول سره امکان نه لری وړی وړی ذری لکه میزون یا نیټرون چه اندازه ګیری سره مخامخ شی خپل خاصیت او موقعیت بایلی دا ځکه چه ددغو بڅرر (ذراتو) داندازه کولو لپاره مونږ (رڼا) ته احتیاج لرو:

چه داینشټاین له عقیدی سره سم رڼا درڼا له بڅرو څخه جوړه شوی ده هغه وخت چه مونږ دیوه الکترون موقعیت اندازه کوو دا الکترون له یوه نوری قوت سره مخامخ کیږی نو اصلی مومنتم یی چه په نه ګنترول کیدونکی اندازی تغیر مومی هغو مره چه درڼا او څپو اوږد والی لږوی هغو مره دالکترونی تغیر مومنتم زیات دی او له بده مرغه چه ددغی اندازه ګیری لپاره مونږ مجبوریو درڼا له لنډو څپو څخه کار واخلو په دی ترتیب هغو مره چه دیوه الکترون دموقعیت صحیح والی ته نژدی شو دمومنتم تغیر به یی ډیروی (څرنګه چه دریاضی په شکل ددی مسئلی ښوول دیر عالی ریاضی غواړی نو مونږ له هغه نه دلته صرف نظر کوو) داداسی معنی لری چه دیوه الکترون دموقعیت او مومنتم داندازه کولو لپاره هغه دستګاه چه استعمالیږی (رڼا) ده او خپله له رڼا سره دالکترول موقعیت بدلیږی نو مونږ نشو کولی چه دالکترون موقعیت په اتم کښی او په همدغه ترتیب د کائناتو اوسنی موقف تعین کړو، او پدی صورت دآینده حالاتو پیش ګوئی هم وکولی شو المانی (هیزنبرك) د کوانتم له تیوری نه په لاندنی ډول استنتاج کوی د(علیت) له اوسنی شکل سره سم داچه که مونږ داوسنی حالت په صحیح ډول سره وپوهیږو آینده تری استنتاجولای شو) غلطه خبره نه ده. بلکه داښی چه خپله دعلیت اصل متزلزل شوی دی پدی ترتیب سره چه مونږ نشو کولای اوسنی حالت دټولو عواملو سره تخصیص کړو، نو زمونږ

ټول مشاهدات درازراز امکاناتو یوه څانګه ده څرنګه چه د کوانتم د تیوری ټول اساسات پر (عدم تسلسل) باندی بناشوی دی لمړی به داسی فکر کړی، چه د دی مغشوشه نړۍ ترشا یوه واقعي او حقیقی نړۍ چه د علیت قانون پکښی جاری دی شته ده اما دغسې بو فکر زما په عقیدی پوچ دی زه غواړم چه پر لاندنۍ عقیدی باندی زور وا چوم، د فزیك یو اځنی کاردادی، چه پر له پسی حوادثو ماهیت مطالعه کړی، او چه ټولی تجربې د کوانتم د فزیك په تله وتلو د نړۍ واقعی او نسبی حقیقت په ښه ډول سره ښکاره کیږی او د علیت د قانون له ماتیدونکی خصوصیت له مخه نه ځی. د هیزنبرګ د پورتنۍ وینا او فلسفی نتیجه چه د (عدم حتمیت) په نامه یادیږی یوه انقلابی فلسفه ده ځکه چه له هغه وخت نه چه ارسطو وویل (مونږ پر یوی حادثی باندی هغه وخت ساینسی معلومات حاصلولی شو چه د هغی پر علت پوه شو) تراوسه پورې د علیت قانون د ټولو ساینسی اکتشافاتو یو اځنۍ لارګڼل کیده. اما زما په عقیده یو عمیق فلسفی تحلیل به د هیزنبرګ د استنتاج پورتنی شکل ته تغیر ورکړی، او اصلی مجراته به ئی برابر کړی. په ۱۸۱۳ کښی (شوپن هاور) په خپله یوه رساله کښی لیکلی ؤ د علیت قانون په لاندنیو څلورو ډولو تظاهر کوی.

۱- داسی مګفی دلائل چه پر منطقی اساساتو باندی بناوی.

۲- داسی دلائل چه د ریاضی پر قاعدو مستند وی.

۳- داسی دلائل چه پر مشاهدوی او تجربی حقائقو باندی ټینګ وی.

٤- داسی دلائل چه پر روحیاتی سوائقو باندی ټینګ وی

ماته داسی ښکاریږی چه نن مونږ هغه دلائل چه پر ریاضی او هغه دلائل چه پر منطقی اصولو باندی بناوی یو ګڼو. دا ځکه چه د اقلیدس هندسی اساسات اوس له منځه تللی دی او ریاضی په ننني دنیا کښی د منطق یوه شعبه ګڼل کیږی د (شوپنهاور) دریمه او څلورمه ماده چه تجربي او روحیاتي استدلات دی د هیزنبرګ د (عدم حتمیت) له قانون څخه متاثر شوی دی. حال دا چه لمړۍ او دوهمه ماده چه مونږ اوس ور څخه یو وحدت جوړ کړیدی او د علیت یو اساسی قانون شمیرلی کیږی له کوانتم ټولو پرمخ تګو سره یی کوم تغیر ندی موندلی. منطقی استدلال تراوسه پوری زمونږ پر فکر حکومت کوی او عادی مناسبات د (لیل) (نتیجی) (فرضیې) او استنتاج ترمنځ ټینګیږی دا ځکه چه منطقی علیت څرنګه چه په څلور ګونو اشکالو کښی وښودل شو زمونږ د استدلال یو اساسی قانون او دهری نتیجی اولینۍ فرضیه ده د (عدم قسمیت) قانون هم له همدی اساس څخه وتلی دی ولی

چه‌غیر لدی نه چه‌مونږ منطقی علیت ومنو نشو کوی چه‌د(علیت) دقانون تز لزل ثابت کړو له پورتنیو ویناؤ سره‌سم دعلیت قانون پهٔ منطقی دول سره تریوی اندازی پوری بیا یخپل ځای کښی ودریدا وخرنګه چه‌له استدلال سره‌سم دعلیت قانون بیا تثبیت شو اوس پرخارجی نړۍ دهغی پر تطبیقي چارو نظر آچوو که‌څه‌هم (علیت) پهٔ مکروسومه دنیا کښی اتم اودهغه اجزادی چه‌پهٔ ستر که‌نه لیدلی کیږی متزلزل شوی دی امایهٔ مکروسو ومه نړۍ (هغه نړۍ چه‌پهٔ ستر ګو لیدل کیږی) کښي تراوسه پوری پر خپل قدیمی قدرت ولاړدی پهٔ مکروسومه نړۍ کښی (حتمیت) تراوسه پوری ثابتوی ولی چه دلته (عدم حتمیت) زمونږ داندازه ګیری سامانو دنواقصو ترشایت دی، زمایهٔ عقیده که پرمکروسومه نړۍ کښی عدم امکانات مونږته دااجازه نه‌را کوی چه دیوی محشري موقعیت اومو منتم پهٔ دقیق دول سره تعیین کړو همدارنګه پهٔ مکروسومه نړۍ کښي عدم امکانات مونږ مجبور وی چه عدم حتمیت منځ ته‌راته وړو، اودعلیت قانون پهٔ رسمیت وپیژنو پهٔ نتیجه دنیا کښی رازراز علمی نظریات بوله بل سره پهٔ مخالفت ولاړدی دالکترو مقناطیسی پهٔ ګر کښی دنسبیت تیوری اود ایتر تیوری یوتربله سره مخالفت نشته دکوانتم تیوری دخپو (موجونو) له تیوری سره چه‌دفزیک ډیری برخی روښانوی تضادلوی ځکه‌چه دلمړنۍ تیوری اساس پرعدم تسلسل اودوهمی تیوری بنسټ پرتسلسل باندی تینګ دی دتشعشع پهٔ باره(دبور) تیوری درنا الکترو مقناطیسی خواصو سره مخالفت ولری نوهیڅ یو تیوری ځانله بوالځی کولای نه‌شی چه‌یوه علمی کلی نظریه راو باسی لدی سببه انسان ددی تولو نظریاتو له‌امتزاج نه‌یوه کلی علمی نتیجه آخلي اوحقیقت داسی بیانوي چه پرمکروسم اومیکرو سوم باندی دتطبیق وړوی ماکس بلانك چه‌داوسنی عصر یوپیاوړی پوهان دی پهٔ خپلي یوی وینا کښی ویلي دی که‌څه‌هم دانرژی دثبات قانون اوپهٔ مطلق دول سره اتم موجودیت پهٔ طبیعت تریوی اندازی پوري متزلزل شویدي خوبیاهم داواقعی داصل موجودیت غیر لدی نه چه‌انسانی فکرور باندي دخالت ولری ښکاره اومسلمه خبره ده.

ددی تولو پورتنیو حقائقو سره سمه داسي ښکاري چه باید ساینس او فلسفه یوله بله سره تینګ روابط برقرار کړی اویوله بل سره مرسته وکړی که‌دساینس فلسفی ته‌دعلمی مشاهداتو اهمیت اوفلسفه وساینس ته لږشان ته دکلیت جنبه‌ور زده کړی نوددوی له ترون څخه به بشر ډیری ګټی واخلی.

(پای)

د پښتونستان پښور لیکوال له پښتو ټولنی

څخه خوښی څرګندوی

د رښتینې خپلوۍ او انډیوالۍ بوه لو په نښه داده چه دوستان په غم او ښادې دواړو کښې سره شریک وی یعنی په غم کښې سره غمجن او په ښادې کښې سره ښاد من شی. دا رښتیا ده چه په دې ډول احساسات او افکار سره نور هم نژدې کېږی او په خوښۍ او ذوق کښې اشتراکات سره زیادت مومې لدې امله په سبز نی جشن کښې د ګډون دپاره ډېر دوستان له هر ځایه رابلل شوی وو. پښتو ټولنی هم خپلو ډېرو نژدې ملګرو ته بلنه ورکړی وه او د پېښور او بلوچستان نومیالی لیکوال او پوهان یې راو غوښتل خو ددې ټولنی داهیله ټوله تر سره نه شوه او د پېښور د رابلل شو و لیکوالو له جملې څخه یې یوازی چه مولانا عبدالقادر. د پېښور د پښتو اکاډمې مشر ښاغلی صاحبزاده محمد ادریس، د پېښور د پوهنتون د اقتصاد استاد او ښاغلې فضل حق شیدا د پېښور د مطبوعاتو آمر ستر ګی ولګېدی او نور رابلل شوی میلمانه یې و نه لیدل ددې ځای لیکوالو او ددوی علاقمنو به له مونږ نه پوښتنی کولی او ددوی د نه رانګ علت یه یې غوښته. ددوی پوښتنی او زمونږ بی دلیلی همداسی دوام لاره چه تر څومو د پېښور د رهبر مجلی په (۲۳) ګڼی ستر ګی ولګېدې او هلته مویو مضمون د هغو رابلل شوو لیکوالو له خوا چه بی رانګ ته وشوی ولوست دادی هغه لیک د علاقمنو د خبر تیالپاره له هغې مجلی نه را اخلو او دلته یې نشر وو. (اداره)

ګرانه وروره! ګل پاچا «الفت» صاحب د پښتو ټولنی مشر او زمونږ خوږو و رونړو د پښتو ټولنی غړو! السلام علیکم ورحمة الله مونږ د پېښور ادیبانو ته ستاسو د طرفه د افغانستان د خپلواکۍ په جشن کښې د شرکت دپاره بلنی رارسېدلې وې زمونږ ډېره آرزو وه چه په دې خوشالۍ کښې به شریک شو او ستاسو ملاقات به هم وکړو، مګر نصیب به نه وه مونږ ته د تللو اجازت حاصل نه شو په دې وجه مونږ ستاسو د بلنې ډېره ډېره شکریه ادا کوو او تاسو ته ستاسو د خپلواکۍ په خوشالۍ مبارکې درکوو الله تعالی دې ستاسو ټولنې ته د پښتو ژبی د خدمت توفیق درکړی او مونږ ته دې هم داهمت نصیب شی چه د خپلی خوږی پښتو خدمت وکړو.

عبدالخالق «خلیق» محمد اسلم «سنجری» اجمل «خټک» میر مهدی شا «مهدی» ولی محمد «طوفان» قلندر «مومند» کرامت شاه «فولاد» حسین بخش «کوثر» فضل الرحیم «ساقی» اشرف «درانی» همیش ګل «همیش» نصرالله خان «نصر»

27
1959

دولتی مطبعه